بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

اَللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّد

دَ سلو(100) نعتونو يوه حسينه گلدسته

# نعتونه رحمتونه


تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی

فاضل جامعة العلوم الاسلاميه بنوریؒ ټاون کراچی



د ملاويدو پته

دارالاحناف کتب خانه

نيواړه مردان خيبرپختونخوا




بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

وصلّی اللّٰه علی النّبیّ الامّی

## حمد باری تعالیٰ

﴿1﴾

ټول حمدونه صفتونه ربه! ستا دی
ستا په امر سره هر څۀ ټول پيدا دی
هريو څيز درته ښکاره پوره ظاهر دے
ستا نه پټ کله څيزونه د دُنيا دی
په هر څيز باندې خبرئې ته خبير ئې
تدبيرونه دې تمام اعلا بالا دی
شريك نۀ لرے تنها په کائنات ئې
پيدا کړی دی تمام هر څۀ تنها دی
موسمونه پيدا کړی رنګ په رنګ تا
صفتونه ئې له يو بل نه جُدا دی
راليږی مُرسلان پيغمبران تا
دَ مخلوق تمامو خلقو خيرخوا دی
کتابونه ورسره دَ هدايت دی
هدايت لره دُنيا کښې دَ هرچا دی
په قرآن سره منسوخ هغه تمام دی
ټول منسوخ په محمد رسول اللّٰهﷺ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ احمد په دې ايمان لرم يقين
ما منلی ټول حکمونه دَ الله دی

## حمد باری تعالیٰ

﴿2﴾

حمد وثنا سره وظيفه ښۀ ده په هردر
الله اکبر وايه الله اکبر
په شوق او محبت سره مدام وئيل پکار دی
سحر نه پس د ورځې هم ماښام وئيل پکار دی
دننه هم په کور کښې وايه وايه هم بهر
الله اکبر وايه الله اکبر
شفا دَ مريضانو د مرض پوره تمام ده
دُنيا کښې وسيله دَ رنځورانو دَ آرام ده
هرخواته په هرلورلری مدام دغه اثر
الله اکبر وايه الله اکبر
لرکيږی ورسره له هريو زړۀ نه دَ زړۀ زنګ
په دې سره په زړۀ کښې پيدا کيږی مينه ننګ
ختميږی ورسره هريو جادو دَ جادوګر
الله اکبر وايه الله اکبر
خوشبو خوشبو تمام ورسره دلته شی ماحول
لازم په هربشر دی خپل مولیٰ لره يادول



ختميږی ورسره دَ جهانونه تمام شر
الله اکبر وايه الله اکبر
ميدان چې دَ جهاد وی دا نعره وی ښۀ په جار
په مونځ کښې مونږ ددې خبرې مونږ کوُو اقرار
په ناسته هم په ملاسته وينا ښکلې په بستر
الله اکبر وايه الله اکبر
ورسره راحتونه، رحمتونه په هرلور
ورسره ښکلې شوې، رڼا شوې هريو کور
خوشحاله ورسره وی هرطرف ته هربشر
الله اکبر وايه الله اکبر
اعلیٰ احمده! دلته وظيفو کښې وظيفه ده
محشر کښې دَ ميزان تله په دې سره درنه ده
دَ سترګو بينائی ده هرطرف ته دَ نظر

## حمد باری تعالیٰ

﴿3﴾

الله الله وايه، وسيله دَ هرسکون ده
ښه دا وظيفه زمونږ دَ ټولو دَ ژوندون ده
الله الله وايه، چې هرکار دې په ژوند سَم وی
الله الله وايه، تا نه لرے به هرغم وی
وسيله دُنيا کښې هرطرف ته دَ تړون ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله الله وایه، وسیله دَ هر سکون ده
الله الله وایه، دا سبب دَ رحمتونو دے
ډیر اجرو ثواب لری سبب دَ برکتونو دے
ښهٔ دَ عاشقانو وظیفه دَ هرمجنون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هر سکون ده
الله الله وایه، ورسره دَ ژوندون رنګ دے
دي سره لرشوي تل له زړونو نه هرزنګ دے
دَکور وظیفه، هم وظیفه تل دَ بیرون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هرسکون ده
الله الله وایه، دَ محشر ښکلي توښه ده
تل له دَ میزان ورسره ښهٔ ډیره درنه ده
ذِکر وظیفه دَ ذکرانو ده، مسنون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هرسکون ده
ورسره ښهٔ شوي مریضان په ټول جهان دی
ورسره په امن دَ امن ټول طالبان دی
ښهٔ وظیفه دلته کښي هرچا لره موزون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هر سکون ده
الله الله وایه، مشکلات ورسره حل دی
ورسره دُنیا کښي رنګاني هرخوا مَل دی
ښهٔ اسانه دلته وظیفه دا په مضمون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هر سکون ده



خوښه دَ احمدعلی ده نن ددي اظهار کړی
تذکره ددي خبري دلته کښي بار بار کړی
نن، په مستقبل کښي، وظیفه دَ تیر پرون ده
الله الله وایه، وسیله دَ هرسکون ده

## حمد باری تعالیٰ

﴿4﴾

الله الله وایه کهٔ مولا خالق رضا غواړے
الله الله وایه نوراني کهٔ ژوندون دا غواړے
الله الله وایه، رحمتونه دَ جهان دی
په سکون ورسره دَ جهان ټول انسانان دی
الله الله وایه کهٔ اجرونه له مولیٰ غواړے
الله الله وایه کهٔ مولا خالق رضا غواړے
ښهٔ اعلا بالا دا عبادت دَ صالحانو دے
الله الله وایه حفاظت له شیطانانو دے
الله الله وایه حفاظت کهٔ له بلا غواړے
الله الله وایه کهٔ مولا خالق رضا غواړے
الله الله وایه مقدر به دي خائسته وی
تل له دَ میزان به ورسره ډیره درنه وی
الله الله وایه کهٔ مالك سره وفا غواړے
الله الله وایه کهٔ مولا خالق رضا غواړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله الله وايه، ورسره زړونه صفا وي
نۀ به څۀ وي زنګ، پوره پوره صفا به دا وي
الله الله وايه کۀ دَ ګټې تۀ سودا غواړے
الله الله وايه کۀ مولا خالق رضا غواړے
ژبه ستا ورسره په هر لورډي مدام تروي
ښکلي د دُنيا به ورسره ستا مُقدر وي
الله الله وايه کۀ دَ امن دا فضا غواړے
الله الله وايه کۀ مولا خالق رضا غواړے
دا احمده! دلته وسيله دَ برکتونو ده
الله الله وايه وسيله دَ جنتونو ده
الله الله وايه کۀ قُربت دَ اولياء غواړے
الله الله وايه کۀ مولا خالق رضا غواړے

# حمد باری تعالیٰ

﴿5﴾

مالك دَ جزا هم، قادر په سزا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
نۀ محتاج وزير ته دلته په دُنيا کښې
نۀ محتاج مُشير ته دلته په دُنيا کښې
داسې بادشاهانو کښې اعلا باچا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے



نۀ لري شريك څوك دلته کائنات کښې
نۀ والد ولد دے، داسې دے په ذات کښې
هغه په صفاتو ټولو ښۀ بالا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
سزا ورکوُنکے غواړې چې هرچا ته
جزا ورکوُنکے غواړې چې هرچا ته
تل زمونږ دَ ټولو يَو هغه خير خوا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
ورسره علاج شته دَ ژوند دَ غمونو
ورسره سکون شته دَ هرچا دَ زړونو
آګاه له له دُنيا نه دلته له هرچا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
محبت کوُنکې، دولت ورکوُنکے
عزت ورکوُنکې، ذلت ورکوُنکے
داسې په صفاتو ټولو ښۀ جُدا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
هريو طلبګار له رزق ورکوُنکے
هر قسمه بيمار له شفا ورکوُنکے
هغه اُوريدونکے دَ سوال او دُعا دے
داسې په دُنيا کښې يَو الله زما دے
پاس لوح او قلم هم، بره آسمانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پیدا کړی دا تمام څیزونه
مالك د دُنیا هم مالك دَ عقبیٰ دے
داسې په دُنیا کښې یَو اللّه زما دے
حمد دَ مولیٰ دے دلته چې احمد کړی
دَ هرچا هرخواته، چې غواړی مدد کړی
دا بیان واضحه ښۀ ښکاره صفا دے
داسې په دُنیا کښې یَو اللّه زما دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (1)

سپرلې راغے، یو نُور راغے
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
طلب دَ طالبانو نن، طلب دَ عاشقانو نن
طلب دَعجمیانو نن، طلب دَ عربیانو نن
خیر خوا دَ هر مجبور راغے
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
تیرې پسې سحر سحر، دَ ستر گو نُور نظر نظر
افضل اعلیٰ بشر بشر، محبوب دَ ربّ اکبر اکبر
مُحسن دَ هر مزدور راغے
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
تیرې شولې رخصت تمام، خوشحاله شول خوَاص عوام
بدل شول تمام نظام، نازل شولو اعلیٰ کلام
سکون راغے، سُرور راغے



حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
عجم عرب بدل شولو، رڼا هریو محل شولو
حسین هریو منزل شولو، کامل شو مکمل شولو
کامل په تول اُمور راغے
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
احمدعلی درود وایه، سلام په حق محمود وایه
ذکر کړه یاودود وایه، صفت دَ حق موجود وایه
محبوب دَ ربّ غفور راغے
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے

**اَللّٰهُمْ صَلِ عَلیٰ مُحَمْد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمْد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (2)

ښکلې منظر عجیبه، راغے حضور ﷺ راغے
حسین منظر دَلیدو، راغے چې نُور راغے
رڼا تمام عرب شو، رڼا تمام عجم شو
نورانی هر محل شو، رڼا تمام عالم شو
مدد ورسره دَ ربّ، راغے منصور راغے
ښکلې منظر عجیبه، راغے حضور ﷺ راغے
قیصه پوره تمام شوه دَ هر شیطان دلته کښې
په شیطانانو راغے په ژوند طوفان دلته کښې
نبی ﷺ رسول ﷺ اخری، له ربّ غفور راغے
ښکلې منظر عجیبه، راغے حضور ﷺ راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسرئ کښې هرطرف ته غم شو، ماتم جوړ شو
ماحول تمام عجيبه په دې عالم جوړ شو
پوره پوره ښـهٔ خبر په ټول اُمور راغے
ښکلې منظر عجيبه، راغے حضور ﷺ راغے
انسانيت شو بيدار، پټ محبت ښکاره شو
احمده ! هر بشر ته ټول حقيقت ښکاره شو
شيطان شکست اُوخوړو، تور دَ غرور راغے
ښکلې منظر عجيبه، راغے حضور ﷺ راغے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ(3)

خوشحالي دی، خوشحالي دی
حضور ﷺ راغے حضور ﷺ راغے
منظرونه دَ ښادي دی
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
ختم شو تمام غمونه
پټ ښکاره شول رازونه
رانازل شو رحمتونه
برکتونه، برکتونه
ښې نقشې دَ زندګي دی
حضور ﷺ راغے حضور ﷺ راغے
منظرونه دَ ښادي دی



حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
وُدهٔ خلق ټول بيدار شو
سم ګلونه دَ ګلزار شو
له ګناه نه توبه ګار شو
دَ مولا په حق لار شو
علامات دَ تبديلي دی
حضور ﷺ راغے حضور ﷺ راغے
منظرونه دَ ښادي دی
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
بتان مات دَلات دَ منات شو
حسين هر خواته حالات شو
سَم دَژوند ټول معاملات شو
ختم هر خوا فسادات شو
بيانات دی، ګواهي دی
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
منظرونه دَ ښادي دی
حضور ﷺ راغے، حضور ﷺ راغے
سلامونه درونه
سَم لعلونه يا ګلونه
دَاحمدعلی شعرونه
ټول نعتونه صفتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعلانات دا په هر ځائې دی

حضور ﷺ راغے ، حضور ﷺ راغے

منظرونه دَ ښادې دی

حضور ﷺ راغے ، حضور ﷺ راغے

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (4)

دَ سر سیورې رحمت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

کامل په هر صفت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

په شا شو ظلمتونه ټول

رخصت شول غمونه ټول

حسین شول ښارونه ټول

ښکاره شو پټ رازونه ټول

خیر خوا دَ ټول اُمت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

اُوچت راغے اُوچت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

مئین په مؤمنانو ډیر

مئین په صادقانو ډیر

مئین په صالحانو ډیر



مئین په عالمانو ډیر

هادی دَ هدایت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

پیغام دَ اُخوت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

کامل په نُور رڼا سره

کامل حُسن ښکلا سره

کامله حق وینا سره.

مذهب ښکلې اعلا سره

حسین په ټول سیرت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

بُنیاد دَ اُخوَت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

سپرلې شو په دنیا دلته

هر در شول اعلا دلته

ښوره شوه حق وینا دلته

سبق دَ هر وفا دلته

خاتم دَ رسالت ﷺ راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ر ﷺ راغے

برکت راغے ، شفقت راغے

حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبو شوه دَ اسلام خوره
رڼا شو دَ کلام خوره
خوشبو شوه ښه تمام خوره
احمده ! شوه دا عام خوره
شفیع د شفاعت راغے
حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے
عزت راغے ،عظمت راغے
حضور ﷺ راغے ، حضرت ﷺ راغے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (5)

مکه کښې خبر ښور شولو آقا ﷺ راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے
په کور دَ آمنې بې بې کښې نُور شولو ظاهر
خیر خوا دَ مخلوقاتون پاك حضور ﷺ شولو ظاهر
پوره پوره صادقه په وینا راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے
دَ ظلم او دَ جبر او دبدله سلسله
دَ شرك دَ گندگې نه پاکه شوله هر کوځه
صاحب دَ هریو حُسن دَ ښکلا راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے
دُنیا کښې هر طرف ته ضرورت دَ عدل وو



خالي هر یو مکان هر عمارت دَ عدل وو
انصاف دَ پاره عدل له طٰهٰ ﷺ راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے
مکه کښې خوشبوئی نۀ وه دَ دین دَ شریعت
په زمکه خوشبوئی نۀ وه دَ مینې دَ محبت
پیغام لره دَ مینې دَ وفا راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے
سپرلي دے په سپرلي کښې سمه جوړه ده ښادي
بدله شوله احمده ! هر طرف ته زندگي
خاتم دَ رسولانو ، انبیاء ﷺ راغلے دے
دُنیا ته محمد رسول اللّٰه ﷺ راغلے دے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (6)

فضا ده ، خوشبو ده ، هوا دَ سپرلي ده
شور دَ حضور ﷺ دَ مکې زندگي ده
خوشحاله په کور کښې بي بي آمنه شوه
حسین شو عرب ټول، حسینه مکه شوه
راغلي هر خوا ته جُدا تبدیلي ده
فضا ده ، خوشبو ده ، هوا دَ سپرلي ده
ابلیس سره غم شو ، ابلیس په ماتم شو
اُوچت دَ اسلام بره بره عَلَم شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظاهره په هر لور ښکاره کاميابي ده
فضا ده، خوشبوده، هوا دَ سپرلي ده
بتان دَ عرب شول مات په هر لور
بتان په کعبه کښې تمام شول نسکور
شروع دَ مولا يو ځل بيا بندګي ده
فضا ده، خوشبوده، هوا دَ سپرلي ده
عرب په سکون شو عجم په سکون شو
دُنيا اُوليدۀ ټول عالم په سکون شو
خبره راغلي ډيره قيمتي ده
فضا ده، خوشبوده، هوا دَ سپرلي ده
شعرونه ستا ښکلي احمده! تمام دي
حسين په صفت دَ جانان ﷺ دا مدام دي
دَ ميني دَ عشق مدام ګواهي ده
فضا ده، خوشبوده، هوا دَ سپرلي ده

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (7)

دَ مکې در و ديوار، پاك حضور ﷺ يادوي
هر محل او هره لار، پاك حضور ﷺ يادوي
مدينه کښې هر چمن، مدينه کښې هر ګلشن
هر شجر دَ هر يو دار پاك حضور ﷺ يادوي
دَ چمن ګلونه ټول، تيرزارۀ وختونه ټول



خوشبوئي دَ هر ګلزار، پاك حضور ﷺ يادوي
مشران دلراوبر، کشران په لراوبر
تذکره کوي بار بار، پاك حضور ﷺ يادوي
چې مسکن وو دَ نبي ﷺ، خوږ وطن وو دَ نبي ﷺ
هغه کلي، هغه ښار، پاك حضور ﷺ يادوي
درود وائي او سلام، په ادب او احترام
ن احمدعلي په جار، پاك حضور ﷺ يادوي

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (8)

په انتظار يُو مونږه کله به ځو
چې په تقدير وی ځو ځو ځله به ځو
دا انتظار کوُل دي ګران راته ډير
ځنګ به وختونه په ما دغه شي تير
چې فيصله اُوشي پخپله به ځو
چې په تقدير وی ځو ځو ځله به ځو
يادونه زړۀ کښې دَ آقا ﷺ لرو ټول
يادونه زړۀ کښې ښۀ اعلا لرو ټول
چې شي منظور، له دې محله به ځو
چې په تقدير وی ځو ځو ځله به ځو
روضې ته درله د آقا مدني ﷺ
کوځې ته درله دَ آقا مدني ﷺ

چې مې دَربّ خوښه وي هلته به ځو
چې په تقدیر وي ځو ځو ځله به ځو
دعا کومه ،دا قبوله دې وي
دا دَ احمد وینا قبوله دې وي
کله په یَو، کله په بله به ځو
چې په تقدیر وي ځو ځو ځله به ځو

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 9 )

مصطفیٰ خیرالوریٰ ﷺ ته مرحبا
خیر خواه ، بدرالدجیٰ ﷺ ته مرحبا
چا سره چې بند شول ظلمونه ټول
چا سره چې ښکلي شو ښارونه ټول
چا سره چې راغلل رحمتونه ټول
چا سره چې راغلل برکتونه ټول
حق نبي ﷺ ته رهنما ته مرحبا
مصطفیٰ خیرالوریٰ ﷺ ته مرحبا
چا سره چې عامې رڼاګانې شوې
شرك سره ودانې کوټې ورانې شوې
چا سره چې ښکلې هواګانې شوې
هر خوا دَ توحید کوټې ودانې شوې
مدني ﷺ شمس الضحیٰ ﷺ ته مرحبا

(c) ketabton.com: The Digital Library


مصطفیٰ خیرالوریٰ ﷺ ته مرحبا
چا سره چې دلته کښې حالات شو سم
چا سره چې دلته معاملات شو سم
چا سره چې دلته کښې عادات شو سم
چا سره چې دلته مخلوقات شو سَم
دې نبي ﷺ ته ، دې آقا ﷺ ته مرحبا
مصطفیٰ خیرالوریٰ ﷺ ته مرحبا
راغې چې دَ چا سره بدلون پوره
راغې چې دَ چا سره سکون پوره
بدل شو اعلا شولو ژوندون پوره
ښکلې دَ احمد شولو مضمون پوره
اعلا اعلا ، نُور رڼا ته مرحبا

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 10 )

صفتونه دَ نبي ﷺ ډیر ډیر پکار دي
ملغلرې دَ انسان سره په دار دي
ثوابونه دَ محشر دَ پاره دا دي
عملونه دَ جهان تمام اعلا دي
عاقلان له دې نه دلته خبردار دي
ملغلرې دَ انسان سره په دار دي
دَ مولیٰ رضا په دې کښې په محشر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه دي کښې هرطرف ته دَ بشر ده
صفتونه دَ حضور ﷺ چې کړی هوښیار دی
ملغلري دَ انسان سره په دار دی
سلامونه، درودونه وظیفه کړۀ
قیمتی ددې ژوندون هره لمحه کړۀ
صالحان ورته مدام دلته تیار دی
ملغلري دَ انسان سره په دار دی
دَ احمدوینا تمامه قیمتی ده
توښه ښکلې هر بشر له ابدی ده
مدح خوان دَ شفاعت ټول طلبګار دی
ملغلري دَ انسان سره په دار دی

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 11 )

ذکر دَ نبی ﷺ چې په محفل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی
دَ حق تذکرې وی برکتونه وی
ورسره سلام وی درودونه وی
جوړه رڼا دې سره منزل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی
لاړه شی تیارۀ په بل طرف پوره
ښکلې دَ دُنیا شی دا تمام حصه



حُسن خاندان کښې شی نسل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی
ذکر دَ نبی ﷺ چې وی سکون راځی
خوشبو ،رڼاګانې په ژوندون راځی
کله چې اخلاص شامل عمل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی
خوشبوئی ورسره هرطرف ته وی
کامیابی ورسره هرطرف ته وی
حُسن راپیدا چې په عقل کښې شی
حُسن خامخا هغه محل کښې شی
لاړ شی دَ بدعت نحوستونه ټول
بدل شی دَ بدو عادتونه ټول
ښکاره دا اثر صرف اصل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی
خوندا ودَ مزې ډکې خبرې دی
سمې دا احمده ! ملغلرې دی
فرق په اصل او په نقل کښې شی
حُسن راپیدا هغه محل کښې شی

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 12 )

میاشت دَ پسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډير ډير مبارك موشه، ربيع الاول راغے
مكه حسينه په دې دُنيا شوه
دا په حضور ﷺ رنړا رنړا شوه
اعلا اعلا تمامه دا شوه
اعلا بالا په مصطفیٰ ﷺ شوه
ډير ډير مبارك موشه، دَ مسئلو حل راغے
مياشت دَپسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے
راغے مكه ته خير الابرار ﷺ
دَ ټولو زړونو سكون قرار
راغے مكه ته نبی سردار ﷺ
خوشبو خوشبو شو كلي هر ښار
ډير ډير مبارك موشه، ښۀ اعلا افضل راغے
مياشت دَپسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے
حسين هر كور كلی مكان شو
محبوب پيدا چې دَ پاك سبحان شو
سپرلے راغلے ، ختم خزان شو
دَ ظلمتونو ختم دوران شو
ډير دير مو مبارك موشه،نبی ﷺ دَ عدل راغے
مياشت دَپسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے
كامل تمام په ټول سيرت دے
خوشبو تمام ، صفت صفت دے



ډير مهربان په دې اُمت دے
ټول په وجود رحمت رحمت دے
ډير ډير مبارك موشه، مقرر اجل راغے
مياشت دَپسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے
دَ ولادت مياشت دَ خوږ آقا ﷺ ده
په انواراتو حسينه دا ده
په دې نسبت اعلا بالا ده
دَ احمد ټوله حقه وينا ده
ډير ډير مبارك مو شه، ښكلی هغه پَل راغے
مياشت دَپسرلی ده ، خاتم الرُسل ﷺ راغے

**اَللّٰهُمْ صَلِ عَلیٰ مُحَمْد وَ عَلیٰ اٰلِ مُحَمْد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (13)

بدلون په جهان راغے دا آسمان اُوليدو
مكه كښې دَ مكې خلقو جانان ﷺ اُوليدو
كسرئ محل كښې مړ شولو بل شوے هغه اُور
بل خواته راګوزار شو يو مضبوط دَ كاڼو كور
منظر دا عجيبه خلقو عيان اُوليدو
مكه كښې دَ مكې خلقو جانان ﷺ اُوليدو
دَ لات منات بتان په هر طرف شو راګوزار
ذليله مشركان شو ظالمان په هر لار
دُنيا كښې چې دُنيا خپل مهربان اُوليدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو
هـرخواتـه هـرشیطـان شولو په غم کښې مبتلا
بـندشرك دَ شرك دُوکـان شولو هرخواتـه ښهٔ صفا
خیـرخـواه چـې خـلقو خپـل ،دَ خـانـدان اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو
رڼـا راغـلـه ، دُنیـا شـولـه رڼـا رڼـا تـمـام
ښـکلا راغـلـه ، ښُـکـلا شولـه هرخوا په هر مقام
اثـر دَ تبـدیـلـې هـریـو انسـان اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو
سـکـون راغـے ، خوشبو راغـلـه اعلا ددې جهان
بـدلـون راغـے ، خـوشبـو راغـلـه دُنیـا تـه دَ قرآن
نـازل شـولـو قـرآن ، خـلـقـو قـرآن اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو
شیـطـان لـه شیـطـانانو نـه هرخوا شو نـااُمیده
شیـطـان لـه کـافـرانـو نـه هرخواشو نـااُمیده
آبـاد چـې دَ تـوحیـد هـغـه مـکـان اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو
مـنـظـر دَ هیـریـدو دے کلـه هغـه دَ هجـرت
مـنـظـر دَ هیـریدو دے کلـه هغـه دَ عـظمـت
حـضـور ﷺ بیـا ونـو بـوتـو نـاسـت روان اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو



هـرخواتـه خوشـحـالـی شوه ډیره ډیره په جهان
جـوړه سـمـه ښـادی شولـه احـمده ښـهٔ عیـان
خـلـقـو خپـل غـمـخـوار، نبی سـلطان ﷺ اُولیـدو
مـکـه کښـې دَ مـکـې خلقو جـانـان ﷺ اُولیـدو

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفٰی ﷺ (14)

مـوقـعَ خوشـحـالـې ده خورِ انسـان ﷺ راغلـے دے
نبیـانـو کښـې نبـی اٰخـرزمـان ﷺ راغـلـے دے
مـکـه کښـې هـرطـرف تـه پاس فضا شوله بدله
قـائـم شـولـه دُنیـا کښـې پـه هرلورد عـدل تـلـه
دَ شـرك او دَ بـدعـت هـرخـواتـه غـونډه شوه خزلـه
کـاڼـی شـو راګوزار دَ کسـرئ لـه غـټ محلـه
رحـمـت رحـمـت دنیـا تـه مهربـان راغـلـے دے
نبیـانـو کښـې نبـی اٰخـرزمـان ﷺ راغـلـے دے
مـات هـرخـواتـه بتـان دَ بـت کدو شـو دغـه دم
مـات هـرخـواتـه بتـان دَ جهالـت شو پـه عـالـم
سـکـون شـو راپیـدا دَ کـائـنـات پـه هـرقـدم
خوشبو خوشبو عرب شولو ، خوشبو شولو عجم
اعـلـیٰ اعـلـیٰ حسیـن ښـکلـې دوران راغـلـے دے
نبیـانـو کښـې نبـی اٰخـرزمـان ﷺ راغـلـے دے
بـاعـث دَ سـعـادت د دوی دُنیـا کښـې اتبـاع

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مونږ باندې لازم د دوی مدام دلته دفاع
په دې خبره دلته دَ امت تمام اجماع
اغیار ته دې، کفار ته دې وی داښکاره اطلاع
خیر خواه دَ ټولو خلقو دَ جهان راغلے دے
نبیانو کښې نبی اخرزمان ﷺ راغلے دے
نازل په دوی قرآن دے اخیری دَرب کتاب
کتاب په کتابونو کښې عظیم دے لاجواب
ددې شته په منلو په لوستلو ډیر ثواب
ټیك شوی ورسره دی مشرکان خلق خراب
کتاب دَهدایت برهان، فرقان راغلے دے
نبیانو کښې نبی اخرزمان ﷺ راغلے دے
د دوی په لاره تللو کښې هرخواته ده فلاح
د دوی سیرت تمام ،دَ خلقو کړې ده اصلاح
ښودلې راته دوی تمام حرام حلال مباح
ګواه دی حدیثونه ټول تمام دَ صِحاح
محبوب دَ ټولو خلقو عالیشان راغلے دے
نبیانو کښې نبی اخرزمان ﷺ راغلے دے
رښا تمام وجود سره هرخواته په عالم
رښا تمام وجود سره دَ ټول عرب عجم
احمدعلی ! په دې باندې ایمان دلته لرم
خاتم دَ مُرسلانو ﷺ محمد نبی اکرم ﷺ



محبوب دَ پاك اللّه غني سبحان راغلے دے
نبیانو کښې نبی اخرزمان ﷺ راغلے دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ(15 )

میاشت دَ جانان ﷺ دَ ولادت راغله
میاشت په دُنیا کښې دَ رحمت راغله
ظالم په یَره شو دَ هریو در
ابلیس په یَره شو دلرا وبر
یَره په کفر دا ساعت راغله
میاشت دَ جانان ﷺ دَ ولادت راغله
خلقو رڼا پوره پوره اُولیده
خلقو رڼا ز مکه مکه اُولیده
وسیله ښه دَ هدایت راغله
میاشت دَ جانان ﷺ دَ ولادت راغله
تورتم تیاري په منډه منډه لاړے
غمونه شپې په منډه منډه لاړے
رڼا د دین دَ شریعت راغله
میاشت دَ جانان ﷺ دَ ولادت راغله
جوړه ښادی ده خوشحالی دلته کښې
ښکلې شوه ټوله زندګی دلته کښې
ذریعه ښهٔ دَ سعادت راغله
میاشت دَ جانان ﷺ دَ ولادت راغله

دَ پسرلی تمام أثار راغلی
ږوب دی انوارو کښې ښارونه کلی
ښه نیغه لاره دَ جنت راغله
میاشت دَجانان ﷺدَ ولادت راغله
ډیر سلامونه درودونه په کښې
احمده ! ښکلي محفلونه په کښې
بالا اعلیٰ په دي نسبت راغله
میاشت دَجانان ﷺدَ ولادت راغله

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ(16 )

دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
ځکه خو شیطان خفه خفه دے غلے دے
ختم له جهان نه ټول رسمونه دَ شیطان شول
ختم له جهان نه عادتونه دَ شیطان شول
ټول هغوی کامیاب دی چا چې حق له حق منلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
لونه به ژمدي خاخیدي تیر هغه وختونه شو
پاك له دي ظلمونو نه تمام هغه کورونه شو
شیطان هر طرف ته په دُنیا کښې پریدلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
ختمه سلسله دَ ظالمانو دَ ظلمونو شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختمه سلسله په مظلومانو دَ غمونو شوه
جنګ جاری دنیا کښې شیطانانو ټول بائیلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
نه به ژړا ګانې دَ مظلوم وی په دُنیا کښې اُوس
نه به وی فریاد دَ مظلومانو په وینا کښې اُوس
ځکه له ظالم نه دغه جنګ حضور ﷺګټلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
په هر لور پوره پوره ددین رڼا خوره شوله
په هر لور پوره پوره دَدین ښُکلا خوره شوله
ورسره حسین پوره هر ښار دے هر یو کلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے
زۀ ئې مدح خوان یم دلته دَ هغوی صفت لیکم
زۀ احمدعلی خواږه نعتونه دَ حضرت ﷺلیکم
عشق ومحبت سره ما دا نعت لیکلے دے
دوست دَ پاك الله خیر الابرار ﷺنبی ﷺراغلے دے

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ(17 )

خَاتَمُ الْمُرْسَلِیْن ، خَاتَمُ النَّبِیِّین
دا نبی ﷺزمونږه اوّلین ، اٰخرین
نبوت په دوی سره تمام دلته کښې
رسالت په دوی سره تمام دلته کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی صادق او امین، رحمت دَ عالمین
خَاتَمُ الْمُرْسَلِیْن ، خَاتَمُ النَّبِیّین
سل آیاته په دي دلیلونه تمام
دلیلونه ښهٔ ډیر حدیثونه تمام
دوی طٰهٰ او یٰسین ، بهترین بهترین
خَاتَمُ الْمُرْسَلِیْن ، خَاتَمُ النَّبِیّین
داسې وائی تمام دلته کښې دا اُمت
سبق ښائی تمام دلته کښې دا اُمت
دَ اللّٰه دے نیازبین ، دا ایمان ، دا یقین
خَاتَمُ الْمُرْسَلِیْن ، خَاتَمُ النَّبِیّین
بس ده مالره د دوی هریو ادا
بس ده تالره د دوی هریو ادا
نُور رنا مُجسّمُ ، ډیر حسین ډیر حسین
خَاتَمُ الْمُرْسَلِیْن ، خَاتَمُ النَّبِیّین
په سیرت ښهٔ کامل ، اے احمده ! پوره
په صفت ښهٔ کامل ، اے احمده ! پوره
په گفتار ښهٔ اعلا ، ډیر شیرین ، ډیرشیرین
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (18)

دَ حضور ﷺ چې ذکر کیږی، رحمتونه راوریږی
سکون زړهٔ ته ملاویږی ، رحمتونه راوریږی



تذکره دَ محمد ﷺ خوشبوئی دَ لر او بر ده
تذکره دَ محمد ﷺ زندگی دَ هر بشر ده
نُور ورسره نازلیږی ، رحمتونه راوریږی
دَ حضور ﷺ چې ذکر کیږی، رحمتونه راوریږی
تذکره دَ محمد ﷺ ثوابونه دی اجرونه
تذکره دَ محمد ﷺ برکتونه ، رحمتونه
عاقلان په دې پوهیږی ، رحمتونه راوریږی
دَ حضور ﷺ چې ذکر کیږی، رحمتونه راوریږی
تذکره دَ محمد ﷺ شته په مونږ کښې دَ انسان
تذکره دَ محمد ﷺ شته په مونږ کښې ښهٔ عیان
حق ښکاره دے نهٔ پټیږی ، رحمتونه راوریږی
دَ حضور ﷺ چې ذکر کیږی، رحمتونه راوریږی
تذکره دَ محمد ﷺ حصه اهم دَ کلمې ده
تذکره دَ محمد ﷺ خالی کله له فائدې ده ؟
دا چې خلق راغونډیږی ، رحمتونه راوریږی
دَ حضور ﷺ چې ذکر کیږی، رحمتونه راوریږی
تذکره دَ محمد ﷺ په درود سره په جار
خوند کوی احمده ! دلته هرطرف ته بار بار
دې نه زړونه نهٔ صبریږی ، رحمتونه راوریږی
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

★★★★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (19 ).

دَ اختر ماحول جوړېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رحمتونه نازلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
خوشبوئی دَ پسرلی ده
دا خو اصل زندګی ده
مینه زړۀ کښې دَ نبی ﷺ ده
مینه زړۀ کښې حقیقی ده
ورسره زړونه رغېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رحمتونه نازلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رڼا تل دَ هر محل ده
رڼا دلته له ازل ده
رڼا ښکلې په اصل ده
زما خوښه له اول ده
دَ زړونو حالت بدلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رحمتونه نازلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي



خاص او عام په دې مئین دی
یادونکی ذاکرین دی
خلق هغه بهترین دی
په دې کار ښکلی حسین دی
مخ دَ کفر تك تورېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رحمتونه نازلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
دَ محشر ښکلې توښه ده
په دُنیا کښې وظیفه ده
دَ احمد وینا خوږه ده
ښۀ اعلا دې بدله ده
مؤمنان ټول خوشحالېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي
رحمتونه نازلېږي
دَ حضور ﷺ چې ذکر کېږي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 20 )

خوشحالی ده ، سَم اختر دے
تمام خلق خوشحالېږي
ولادت دَ پیغمبر ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمتونه راورېږي
راغلل ښهٔ ښکلي وختونه
په سکون شو تمام زړونه
راښکاره شو پټ رازونه
فضل راغلے رحمتونه
عجيبه ښکلي منظر دے
تورتمونه په شاکيږي
ولادت دَ پيغمبر ﷺ دے
رحمتونه راورېږي
پاس فضا شوله بدله
دا هوا شوله بدله
دا دُنيا شوله بدله
بيا صدا شوله بدله
راختلے حق سحر دے
شيطانان تمام ډوبيږي
ولادت دَ پيغمبر ﷺ دے
رحمتونه راورېږي
دا منظر عجيبه ښکلے
خوش نصيبه دي ليدلے
شيطان پټ پټ تخيدلے
شيطان وروستو په شاتلے



دَ چا وايه دا اثر دے؟
ظالمان تمام ژړيږي
ولادت دَ پيغمبر ﷺ دے
رحمتونه راورېږي
دَ احمد ښکلي اشعار دي
زيات له قند نه مزيدار دي
دا حسين په حُسندار ﷺ دي
ډير حسين دي ډير دَ کار دي
نوراني صفت قمر دے
مدام زړونو کښې اُوسيږي
ولادت دَ پيغمبر ﷺ دے
رحمتونه راورېږي

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلىٰ مُحَمَّد وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (21)

مرحبا مرحبا مرحبا مرحبا
مصطفىٰ ﷺ مصطفىٰ ﷺ مصطفىٰ ﷺ مصطفىٰ ﷺ
خپل پردو باندې ډير هغه زيات مهربان
دا خبر حقيقت، ښهٔ ښکاره په جهان
لري درودند دَ عرب ښهٔ بالا خاندان
داسې دلته لري ډير بالا اُوچت شان
ښهٔ اعلا په کردار، ښهٔ اعلا په وينا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
نوراني نوراني په تمام شريعت
نوراني نوراني ټول تمام په صفت
نوراني نوراني مجسّم محبت
لري ښکلي اعلا طريقه دَ سنت
غمخوار زمونږ ، خير خواه دَ هرچا
مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
اُخوَت ورسره دلته کښي په در
ورسره هر مقام معطَر معطَر
ورسره نوراني هر مقام منوَر
په سيرت کښي لري دا تمام اثر
بره بره زمونږ له سو چونو بالا
مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
په رُتبه کښي هغه له هرچا مقدّم
رهنما دَ عرب ، رهنما دَ عجم
عقيده دلته کښي زۀ احمد دا لرم
ورسره نبوت په جهان دے ختم
خاتم المرسلين ﷺ ،خاتم الانبياء ﷺ
مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد



# نعتِ مصطفیٰ ﷺ (22)

خاتم الانبياء ﷺ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
مرحبا مرحبا مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
نيغه لار باندې شو انسانان ګمراهان
نيغه لار باندې شو منکران کافران
نيغه لار باندې شو ډېر بې لارې کسان
دَ رحمت شوروشو هر طرف ته باران
راغے راغے آقا ﷺ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ
خاتم الانبياء ﷺ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
ختم شو دَ جهل هر طرف نه تورتم
خوشحالي جوړه شوه ، ختم شولو هرغم
ټول بدل شو عرب ، هم بدل شو عجم
ښکلې ښکلې شو ټول دا تمام عالم
راغے بدرالدُّجیٰ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
خاتم الانبياء ﷺ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
ضلالت شو فنا له جهان نه تمام
سکون راغے پوره، هريو کور ته آرام
رڼا ګانې هرخوا شوے غالب دَ اسلام
تبديلي راغله ، تبديلي دَ نظام
راغے شمس الضحیٰ ، مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ
خاتم الانبياء ﷺ مصطفیٰ ﷺ مصطفیٰ ﷺ

احمده! ورسره راغے نُور دَ سنت
دَهر يو مسلمان ورسره سَر اُوچت
خزان لاړو پوره له جهان شو رخصت
سبق عام شو هر خوا دَ مينې محبت
راغے خيرالورىٰ مصطفىٰ ﷺ مصطفىٰ ﷺ
خاتم الانبياء ﷺ مصطفىٰ ﷺ مصطفىٰ ﷺ

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (23)

دَخوشحالۍ زيرې په تاسو دَ جهان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
وئيل انصارو مدينه كښې
دمدينې هره كوڅه كښې
زمونږ دَ ټولو پوره شوې نن ارمان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
حكم اُوشولو پاك حضور ﷺ ته
خيرالورىٰ ﷺ نوراني نُور ته
څه مدينې ته، په مكه كښې دې ژوند گران دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
ورسره مَل صديق اكبر ﷺ دے
ډير زيات حسين اعلا منظر دے
منظر ليدلے تمام ښكلې پاس آسمان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
انصار په طمع دَ جانان ﷺ وو
ولاړ ديدن ته په ښۀ شان وو
وړوكې، لوئې په انتظار ورته هر ځوان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
صديقؓ په څنګ كښې دَ حضور ﷺ دے
منظر حسين ډير دَ سُرور دے
ښكلې منظر ډير عاليشان ښكلې دوران دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
على ﷺ نائب دَ پاك حضور ﷺ شو
دَپاك نبى ﷺ په كار مامور شو
امانتونو سره پاتې په مكان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
دَ غار ثور قيام اول دے
دستړو ځائې دغه محل دے
دَسكون ځائے پوره پوره دَاطمينان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے
هجرت دې دغه مدينې ته
پوره غور اُونيسه قيصې ته
ډير مختصر دَاحمد ټول دغه بيان دے
دَتہولو مبارك شے، حضور ﷺ راروان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (24)

چې يَو وار چا خپل جانان ﷺ ليدلے
هغوی هر سکون دَ جهان ليدلے
دولت دا اعلا په نصيب صحابهؓ ته
نعمت دا اعلا په نصيب صحابهؓ ته
دَ نُور او کرم دوی باران ليدلے
چې يَو وار چا خپل جانان ﷺ ليدلے
دَ رحم وکرم دا وينا دَ ادب ده
خبره درنه ښۀ اعلا دَ مذهب ده
دَ تاج نه بغير دوی سلطان ﷺ ليدلے
چې يَو وار چا خپل جانان ﷺ ليدلے
حضور ﷺ ته کتل دی قرآن ته کتل
حضور ﷺ ته کتل دی جانان ﷺ ته کتل
مجسَم تمام دوی قرآن ليدلے
چې يَو وار چا خپل جانان ﷺ ليدلے
خبره دې ښکلې احمده! تمامه
پټه نۀ ده نۀ ده دغه له عوامه
په جار دوی محبوب دَ رحمٰن ليدلے
چې يَو وار چا خپل جانان ﷺ ليدلے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ**



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 25 )

سترګې يخوی خپل جانان ﷺ ته کتل
نبی ﷺ ته کتل دی ،قرآن ته کتل
قرآن دَ نبی ﷺ معجزه مجزه
قرآن ابدی معجزه معجزه
قرآن ته کتل ، حق بيان ته کتل
سترګې يخوی خپل جانان ﷺ ته کتل
قرآن ته کتلو کښې زړۀ په سکون
قرآن ته کتلو کښې ښکلې ژوندون
دَ عدل دَ پاره فرقان ته کتل
سترګې يخوی خپل جانان ﷺ ته کتل
قرآن ته کتلو کښې ډير ډير ثواب
قرآن آخيری دَ الله دے کتاب
په شوق سره دَ رَبْ فرمان ته کتل
سترګې يخوی خپل جانان ﷺ ته کتل
قرآن کښې احکام دَ ژوندون دی تمام
بُنياد پوره پوره زمونږ دَ اسلام
په غور وفکر هر اعلان ته کتل
سترګې يخوی خپل جانان ﷺ ته کتل
قرآن کښې دَ عدل صفا دے سبق
قرآن کښې پوره دَ حيا دے سبق

(c) ketabton.com: The Digital Library



لازم دی خپل دوست مهربان ته كتل
سترگي يخوی خپل جانان ﷺ ته كتل
دَ ختم نبوت په كښي دے سبق
زمونږ دشريعت په كښي دے سبق
دَژوند دَفلاح هرسامان ته كتل
سترگي يخوی خپل جانان ﷺ ته كتل
احمده !شعرونه ستا ښكلي تمام
ليكلي نعتونه ستا ښكلي تمام
كرم ته كتل دی احسان ته كتل
سترگي يخوی خپل جانان ﷺ ته كتل

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (26)

دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
په ټولو محفلونو كښي اعلا دے محفل
حسين پوره تمام دے دَ قرآن په نُور سره
حسين پوره تمام دے دَ جانان ﷺ په نُور سره
جُدا الرونكے شان هغه بالا دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
انوار او بركات ورسره دی دَ محمد ﷺ
مدام هريو شيطان ورسره كړے دے حسد
محفل دَ رڼاگانو دَ ښكلا دے محفل



دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
سحر ماښام په كښي دَ رحمتونو وی باران
تازه تازه ورسره وی دَ هر بشر ايمان
داسي زمونږ دَ ټولو دَ خير خوا دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
راغلي ورته صرف عاشقان دَ محمد ﷺ دی
راغلي ورته ستوري دَ اسمان دَ محمد ﷺ دی
دَ ښكلو خلقو ټولو اولياء دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
دَ عدل دَ انصاف خبره دلته كښي پوره
خبره په كښي هريو دَ دين برخه حصه
خوشبو خوشبو تمام دَ مصطفىٰ ﷺ دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
دَوعظ او نصيحت سره حسين په دي عالم
محفل داسي اعلا دے په عرب او په عجم
نسبت سره بالا دَ خوږ آقا ﷺ دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل
احمدعلي خوشحاله دلته كښي په دي بيان
ياديږی ورته ډير زيات محفلونه دَ جانان ﷺ
دوا دَ زړونو ټولو دلته دا دے محفل
دَ نور نه ډك دَ پاك رسول اللّٰه ﷺ دے محفل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ(27 )

څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
ژوند كښې دَ ښُكلا سره كوى مينه
دي سره ژوندون كښې هر صفت راځي
دي سره ماحول كښې اُخوَت راځي
څوك چې خپل آقا ﷺ سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
هغه نه غمونه تل په شا به وى
لري ټول غمونه ددُنيا به وى
دلته چې خير خوا ﷺ سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
هغه دَژوندون دے ښۀ بالا عمل
هغه دَ سكون دے په دُنيا عمل
حق خيرالورىٰ ﷺ سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
دي سره تړلے تل رضا دَ ربّ
داسبق ښودلے دے اسلام مذهب
هغه به مولىٰ سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
وسيله دُنيا كښې دَ رحمت مدام



وسيله دُنيا كښې دَ عزت مدام
نُور سره رڼا سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
ذريعه دُنيا كښې دَ جنت يوه
وسيله دُنيا كښې دَ راحت يوه
دَ حضور ﷺ ادا سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه
تا احمد ليكلي حق وينا ټوله
تا احمد ښودلي حق وينا ټوله
ښۀ خلق ريښتيا سره كوى مينه
څوك چې مصطفىٰ ﷺ سره كوى مينه

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ(28 )

اُوښايه مولىٰ !دَ مدينې راته كوځے
هلته تيرولے ما دَژوند دا ورځے شپے
هلته درودونه وظيفه وے زما تل
هلته سلامونه وظيفه مې وے وئيل
ځائے دَ اُوسيدو وُے زما هغه محلے
اُوښايه مولىٰ !دَ مدينې راته كوځے
جنت البقيع ته تلل په شوق سره مدام
هلته ټول نصيب راته اسباب وے دَ آرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَامن ځائے دے هغه، نيشته هلته کښي خطرے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هلته په ژوندون کښي به بيل خوندونه دَ جهان
هلته په ژوندون کښي بيل خوندونه ښهٔ عيان
هلته دا خوندونه، دادی هلته کښي مزے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هلته کښي په هرقدم يادونه دَ نبی خير الانام ﷺ
هلته کښي سکون په هرطرف په هرمقام
هلته نازل شوی آياتونه سپارے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هلته کښي په هرقدم خوشبو دَ پاك نبی ﷺ
هلته کښي خوشبوده دَعمرؓ عثمان علیؓ
هلته دَ صديقؓ دی هرطرف ته تذکرے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هلته درودونه سلامونه په هر لُور
هلته په سنت دے رڼا دے هريو کُور
ژوند کښي هرطرف ته دَ حضور ﷺ دی طريقے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هريوي نقشي سره بالا مقام اُوچت
هغه دے احمده ! ښهٔ اعلا مقام اُوچت
ښکلي منظرونه دَ عائشي دی دَ حجرے



اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے
هلته قيمتی دی دَ ژوندون تهولے لمحے
اُوښايه مولىٰ ! دَ مديني راته کوڅے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (29)

په جمع مديني ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
نصيب کښي کهٔ زمونږ وی قدردان له به ځو
زمونږه په نصيب کښي کهٔ ليکلي داسفروی
زمونږه په نصيب کښي ليکلي هغه دروی
په جمع خامخا تهول عاليشان له به ځو
په جمع مديني ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
نصيب کښي کهٔ ديدن د مديني زمونږه وی
نصيب کښي کهٔ وطن دَ مديني زمونږه وی
په جمع مونږ نبی اٰخرزمان ﷺ له به ځو
په جمع مديني ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
نصيب کښي کهٔ ليکلي وی زمونږه هغه ښار
نصيب کښي کهٔ ليکلي وی د هغي در ديدار
خير خوالره په جمع خوږ انسان له به ځو
په جمع مديني ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
نصيب کښي ليکلي دَ روضي ديدن زمونږ وی
دَ عائشي بی بی کهٔ دَ حجري ديدن زمونږ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام لـه دَ سکون ټول اطمينان لـه به ځو
په جمع مدينې ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
نصيب کښې کۀ زمونږه هغه دراري کوځے وی
زمونږ دَ پاره شوي کۀ لـه بره فيصلے وی
صديقؓ، عمرؓ فاروقؓ، حضرت عثمانؓ له به ځو
په جمع مدينې ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
احمده! په نصيب دا ملاويږی هر بشر ته
دُنيا کښې په نصيب دا ملاويږی لر او بر ته
حسين ښکلي دلبر لـه، عاليشان لـه به ځو
په جمع مدينې ته، خپل جانان ﷺ له به ځو
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (30)

اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ
نيشته دے سکون په دې دُنيا کښې بې لتانه
اے ښکلي محبوبه! اے زما ښکلي جانانه! ﷺ
نيشته دے سکون په دې دُنيا کښې بې لتانه
مينه محبت ستا په وجود سره رانبور شو
ستا په وجود سره نوراني کلي هر کور شو
ستا په وجودسره تل دَ جَبر بُت نسکور شو
اے په ټولو خلقو کښې غمخواره قدرانه!
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ



راغلے رڼاګاني ستا وجود سره دُنيا ته
راغلے رڼاګاني ستا وجود سره هرخوا ته
بلـه دَ اسلام ډيوه شوه دلته کښې هرچا ته
اے په مُرسلانو کښې خاتِمه! عاليشانه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ
ستا په شان ګواه دی دَ قراٰن ډير اٰياتونه
ستا خبري ټولي ملغلري دی لعلونه
ښکلي ښۀ بالا لرے دُنيا کښې ټول نومونه
تاسو سفر کړے بره بره لـه آسمانه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ
وائی سلامونه فريښې ستاسو په ذات
ستاسو دې بيشميره په دُنيا دلته صفات
تاسو لـه درکړی ربّ مولىٰ ډير معجزات
لويه معجزه لرے، خبريم لـه قراٰنه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ
دا منم په ټولو انبياء کښې مقدَم ئې
زيري په دُنيا دَ خوشحالي ددې عالَم ئې
مقتدا دَ ټول عرب ئې هم دَ ټول عجم ئې
اے په مخلوقاتو ټولو کښې شرين بيانه!
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ
نه لرے ثاني منمه دلته په ښکلا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیشته دے ثانی ستا دَ اخلاقو په دُنیا کښې
بل صفت دے دا دے چې امام ئې انبياء ﷺ کښې
دا خبره پټه نۀ ده دلته له دُنیا نه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ

امن راغے تاسو سره دلته په لور
مخ په هر طرف دَ هر شیطان شولو تك تُور
مړ شو دَ فارس په محلاتو کښې بَل اُور
بچ ډیر انسانان شو په دُنیا کښې له نقصانه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ

خوښه دَ احمدعلی ستا هر یو ادا ده
تاسو سره دلته کښې لازم په ژوند وفا ده
وحې دَ مولیٰ ستا په دُنیا هره وینا ده
هر یوه خبره قیمتې دي له مرجانه
اے په مُرسلانو کښې نبی اٰخرزمانه ﷺ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (31)

هر یو خبره دي خوشبو خوشبو تمامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ
ټولو مخلوقاتو کښې عالی اُوچت مقامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ

امن سکون راغے تاسو سره دي دُنیا ته



ختم له دُنیانه جهالت شولو هرخواته
پاتې نفرتونه شول تمام له ټولو شاته
ستا په لار روان خلق بچ کیږی له حرامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ

تاسو دَ فلاح لاره ښودلے ده هر چاته
تاسو دَ فلاح لاره ښودلے ده دُنیا ته
تاسو دَ فلاح لاره ښودلے هر گمراه ته
تاسو سره دلته کامیاب شوی دی ناکامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ

تاسو وسیله دَ جنتونو په دُنیا ئې
تاسو وسیله دَ رحمتونو په هرخوا ئې
تاسو مرسلانو لره دلته انتها ئې
تاسو خبر کړی دَ مولیٰ ټوله احکامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ

تاسو سره ناست خلق دی ستوری دَ اسمان
خلق دی درانۀ تمام دُنیا کښې عالیشان
تاسو باندې دلته نازل شوې دے قرآن
زار شمه لتانه، زار دې شم له هر غلامه
اے په مُرسلانو کښې نبی خیر الانامه ! ﷺ

تاسو سره مینه محبت کړے اغیار هم
تاسره سره مینه محبت کړے کفار هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو سره مينه محبت کړے اشجار هم
دا حقيقت پټ نۀ دے تمام له دي عوامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ
تاسو سره ښکلي هريو لاره دَ مکي ده
تاسو سره ښکلي هريو لار دَ مديني ده
ښکلي تاسو سره مدينه په تذکري ده
تاسو سره مينه، مينه نۀ ده دلته عامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ
تاسو ته خطاب دے په يٰسين سره قرآن کښي
طٰهٰ، مزمل او مدثر دَ ربّ بيان کښي
بره ميلمه کړے ربّ مولىٰ ئي لامکان کښي
اے دَ مُرسلانو په دُنيا کښي پيش امامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ
وحی ده راغلے تاسو ته دَ حق قرآن
تاسو سره جوړ دَ رحمتونو دے باران
ستاسو نبوت دے آخيری ددي جهان
نيشته وروستو وروستو بل مذهب له دين اسلامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ
ستاسو مداح خوان دے دَ مولىٰ عظيم کتاب
تاسو ته په والضحىٰ سره شوے خطاب
تاسو رڼا ګاني دی راوړی دَ آفتاب



تولو انسانانو کښي ډير زيات شيرين کلامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ
هريو خبره دي خبره دَ سبحان ده
شافعِ محشر ئي عقيدي مي دَ جهان ده
ساقی کوثر ئي عقيدي مي ښۀ عيان ده
نۀ کړے چي احمدعلی محروم له هغي جامه
اے په مُرسلانو کښي نبی خير الانامه ! ﷺ

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (32)

اے په مُرسلانو کښي محبوب د ذوالجلاله ! ﷺ
مينه محبت ورکړے تاسو دے هرچاله
تاسو رهنمائي مقتدا تولي دُنيا له
تولو مُرسلانو کښي حسينه بي مثاله ! ﷺ
تاسو سره مينه دَ دُنيا دَ جهان ګټه ده
تاسو سره مينه ښۀ اعلا دَ جهان ګټه ده
تاسو سره مينه په هرخوا دَ جهان ګټه ده
تاسو ده رڼا ورکړے دلته هر صباله
اے په مُرسلانو کښي محبوب د ذوالجلاله ! ﷺ
تاسو سره ښکلي هريو لاره دَ جهان ده
تاسو سره ښکلي هرحصه دَ پاس آسمان ده
تاسو سره ښکلي هرحصه دَ لامکان ده

بره ربّ تلے ملاقات لره وِے خواله

اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

تاسو سره دلته کښې بقا ده دَ ایمان

تاسو سره دلته کښې رڼا دَ ټول جهان

تاسو له راغلے دلته وحی دَ قراٰن

ټکی ملغلرے، بره بره دی له خیاله

اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

شافعِ محشر ئې دا دے دلته امتیاز دے

ساقی کوثر ئې دا دے دلته بل اعزاز دے

تاسو سره شوے له اسمان نه بره راز دے

دا ټول صفتونه ربّ درکړی ښکلی تاله

اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

دَ مولیٰ کتاب دے په دُنیا کښې مدح خوان دے

تاسو سره ښکلې دا ماحول د ټول جهان دے

ختم نبوت په تاسو دلته ښۀ عیان دے

تاسو امامت ورکړے دے هم انبیاء له

اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

تاسو خوشبوئی ورکړے ده ټولې فضا ته

تاسو خوشبوئی ورکړے ده ټول دُنیا ته

دلته کښې احمده! محسوسیږی دا هر چا ته

تاسو رهنمائي دَ دُنیا هر رهنما له

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

تاسو دَ سکون ذریعه مور لره بابا له

اے په مُرسلانو کښې محبوب د ذوالجلاله! ﷺ

مینه محبت ورکړے تاسو دے هر چا له

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (33)

ما مینه دَ آقا ﷺ چې په سینه راوړے ده

دُنیا نه دَ فلاح ما وسیله راوړے ده

حسین ورسره ښکلې دَ زړۀ کور په محل دے

حسین ورسره ښکلې دَ زړۀ کور داز ما خپل دے

نیکې مې له دُنیا نه ښۀ درنه راوړے ده

دُنیا نه دَ فلاح ما وسیله راوړے ده

مولیٰ رانه راضی شے دا راوړے ما تحفه ده

منمه دَ جنت دا دګټلو ذریعه ده

ما ځکه ځان سره دا ذریعه راوړے ده

دُنیا نه دَ فلاح ما وسیله راوړے ده

درود سره سلام ما دے دَ ځان سره راوړے

اعلا حسین عمل مې دَ ایمان سره راوړے

دَ ځان سره ډالې ما ډیره ښه راوړے ده

دُنیا نه دَ فلاح ما وسیله راوړے ده

دَ ختم نبوت دَ عقیدې خدمت تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما کړے په دُنيا دغه خدمت په ژوند مدام
ما ښکلي عقيدو کښي عقيده راوړے ده
دُنيا نه دَ فلاح ما وسيله راوړے ده
دُنيا کښي اتباع مي کړے ستا وه دَ نبي ﷺ
دا وائي په محشر کښي به مولىٰ ته هرولى
خبره مي دَ ژوند هره خوږه راوړے ده
دُنيا نه دَ فلاح ما وسيله راوړے ده
په لاره دَ نبي ﷺ چي خوك احمده! وي روان
بيان به په محشر لري حسين ښکاره عيان
دَ ښهٔ عمل ما ښکلي گلدسته راوړے ده
دُنيا نه دَ فلاح ما وسيله راوړے ده

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (34)

ما مينه دَ آقا ﷺ چي په سينه ساتلے ده
دُنيا کښي دَ فلاح ما وسيله ساتلے ده
حسين ورسره ښکلي دے زما دَ زړهٔ تول کُور
دُنيا کښي مسلمان لره دَ زړهٔ مدام تکور
سپين شوے ورسره هريو محل دَ جهان تُور
نيکي مي ځان سره اعلا درنه ساتلے ده
ما مينه دَ آقا ﷺ چي په سينه ساتلے ده
محل ورسره دلته کښي دَ زړهٔ مدام آباد



ختميږي ورسره له زړونو زنګ هريو فساد
مقام ورسره دلته کښي دَ زړه وي مدام ښاد
اعلىٰ ښکلي محشر له ماتوښه ساتلے ده
ما مينه دَ آقا ﷺ چي په سينه ساتلے ده
په دي سره مدام په زړهٔ اُوسي اطمينان
په دي خوشحاله په محشر به وي جانان ﷺ
له هر شيطان نه زړهٔ پوره پوره وي په امان
مينه چي دا په زړهٔ کښي ما پوره ساتلے ده
ما مينه دَ آقا ﷺ چي په سينه ساتلے ده
لازم ده چي دا اُوساتي تمام خواص عوام
احمدعلي په دي مينه خوشحاله دے مدام
سبب ئي په دُنيا کښي دے موندلے دَ آرام
اعلا دَ کاميابي ما ذريعه ساتلے ده
ما مينه دَ آقا ﷺ چي په سينه ساتلے ده

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ (35)

وايمه درود، خوږه جانانه! ﷺ درله راغلمه
خپل وطن مي پريښے، مهربانه! ﷺ درله راغلمه
خوښي اداگاني مي دي يارسول اللّٰه ﷺ! ستا
خوښه طريقه مي ده اے سيدالورىٰ ﷺ! ستا
اے امامه! اے ماهِ تابانه! ﷺ درله راغلمه

خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه
دا مې عقیده ده غوره غوره په جهان ئې
دا مې عقیده ده غوره غوره عالیشان ئې
اے خوږه محبوبه قدردانه ! درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه
تاسو سره مینه لرم ډیره دیره دلته کښې
مینه دا حسینه لرم ډیره ډیره دلته کښې
راغلمه زۀ راغلمه ، سلطانه ! ﷺ درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه
ما دَ درودونه ده تحفه راوړے ځان سره
ما دَ درودونه گلدسته راوړے ځان سره
اے زما محبوبه ! گرانه ، گرانه ! درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه
ما دَ سلامونو هم ډالې راوړے تاسوله
ما ښکلې تحفه دَ زندگې راوړے تاسوله
اے ښکلې محبوبه ! عالیشانه درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه
ما راوړے ځان سره ستا مینه په وجود ده
دا ظاهره شوے دَ لوستلو په درود ده
اے له نمر نه زیات په ژوند روښانه درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په در اُوس ژوند غواړی پوره پوره تمام
ستا په در احمدعلی موندلے دے آرام
اے حسین اعلا شیرین بیانه ! درله راغلمه
خپل وطن مې پرېښے ، مهربانه ! ﷺ درله راغلمه

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 36 )

واورے مؤمنانو ! سفر دَ جانان ﷺ دے
دَ ربّ ملاقات له ، حضور ﷺ روان دے
شپه وه معراج ، حضور ﷺ شو تیار
اَمر دے راغلے دَ پروردیگار
غوښتے ملاقات له ، ربّ د ټول جهان دے
دَ ربّ ملاقات له ، حضور ﷺ روان دے
سور شو په براق ، شپه کښې معراج
ختم دَ جهان شو ، هر رسم و رواج
دَ مولیٰ راغلے امر دے ، فرمان دے
دَ ربّ ملاقات له ، حضور ﷺ روان دے
هر خوا خوشحالې شوے بره په آسمان کښې
نُور په هر طرف شو ښور په لامکان کښې
معطر تمام بره هر آسمان دے
دَ ربّ ملاقات له ، حضور ﷺ روان دے
لاړلو حضور ﷺ بره لامکان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَربِ ملاقات له ، بره پاس أسمان ته

اے احمده! ښکلي دا پوره بیان دے

دَربِ ملاقات له ، حضور ﷺ روان دے

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 37 )

مینه دَ جانان ﷺ سره په مینو کښې حسینه ده

څکه په جار وایم دَ جانان ﷺ سره مې مینه ده

دا مینه دُنیا کښې دَ سکون ښۀ ذریعه ده

دَا دَربِ مولیٰ دَرضا کُولو وسیله ده

ډیره دا په مینو کښې اعلا ده بهترینه ده

مینه دَ جانان ﷺ سره په مینو کښې حسینه ده

دا مینه په زړۀ کښې دَ اصحابؓ سره مدام وه

دا مینه په زړۀ کښې دَ اصحابؓ سره تمام وه

هریو خبره په دې باب کښې ښۀ شیرینه ده

مینه دَ جانان ﷺ سره په مینو کښې حسینه ده

دې سره خوشحاله وی مولیٰ دَ کائنات

دې سره سمیږی دَ ژوندون ټول معاملات

دې سره نقشه دَ کائنات ښکلي رنګینه ده

مینه دَ جانان ﷺ سره په مینو کښې حسینه ده

زه هم دغې مینې سره دلته کښې داریم

زۀ احمدعلی په حقیقت ښۀ خبردار یم



دې سره په جوش سره زما دَ بدن وینه ده

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 38 )

ښکلي ده ټولو عقیدو کښې عقیده دَ نبی ﷺ

بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَ نبی ﷺ

دا عقیده لرمه دلته دا ایمان لرمه

دا عقیده پوره پوره په هر مکان لرمه

رښا رښا ده په دُنیا ټوله اُسوَۃُ دَ نبی ﷺ

بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَ نبی ﷺ

غواړے کۀ رښاګانې هدایت دلته کښې

پوره تمام دے دَ رسول اللّٰه ﷺ سیرت دلته کښې

جوړ پیروکار شه په دُنیا پوره پوره دَ نبی ﷺ

بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَ نبی ﷺ

له ناکامو نه به په دې سره بچ کیږے دلته

مالك خالق ته به په دې لاره رسیږے دلته

حُسن ښُکلا ده دَ سیرت هره حصه دَ نبی ﷺ

بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَ نبی ﷺ

وسیله دلته کښې دَ ربِ دَ پیژندلو یوه

مولیٰ ته دلته وسیله دَ رسیدلو یوه

لازمی دلته اختیارول دی وسیله دَ نبی ﷺ

بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَ نبی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَاطمینان طالبه! راشه اطمینان دلته دے
دَرحمتونو په هرلور پوره باران دلته دے
زړۀ له سکون ورکوی دلته تذکره دَنبی ﷺ
بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَنبی ﷺ

ذکر دَپاك نبی ﷺ کوُل بیا دَاصحاب ورسره
تذکره کوُل دَاحادیثو دَکتاب ورسره
وینا تمامه هریوه خوږه دَنبی ﷺ
بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَنبی ﷺ

جام دَکوثر په دې سره به ملاوېږی تاته
قُرب دَنبی ﷺ په دې سره به حاصلېږی تاته
دَشفاعت دَحاصلولو ذریعه دَنبی ﷺ
بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَنبی ﷺ

دَجانان ﷺ مدحه په دُنیا ښکلې بالا عمل
درود سلام دې وائی ښکلې دَ هرچا عمل
پوره پوره ده په دُنیا هره وعده دَنبی ﷺ
بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَنبی ﷺ

مدح مدام کوی احمددَ خپل جانان ﷺ په شوق
لیکلې دلته کښې هغه دے هریان په شوق
ثنا صفت کوی دلته هره جُمله دَنبی ﷺ
بالا په ټولو طریقو کښې طریقه دَنبی ﷺ

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ**



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 39 )

ښۀ بالا په جهان دَنبی ﷺ وسیله
دَفلاح په جهان ابدی وسیله

طریقه دَنبی ﷺ دَجنت لاره ده
طریقه دَنبی ﷺ دَعزت لاره ده
دَفلاح دَعزت حقیقی وسیله
دَفلاح په جهان ابدی وسیله

وسیله دَرڼا هربشر له مدام
وسیله دَرڼا الراوبر له مدام
دَحُسن دَ ښُکلا مدنی ﷺ وسیله
دَفلاح په جهان ابدی وسیله

دَرحمت وسیله دَمولا دلته کښې
ښۀ بالا ټول سیرت دَآقا ﷺ دلته کښې
رسیدو ته دَربّ هاشمی ﷺ وسیله
دَفلاح په جهان ابدی وسیله

دَامن دَسکون ذریعه په جهان
دَفلاح ذریعه دلته کښې ده قرآن
مسلمان خامخا دا منی وسیله
دَفلاح په جهان ابدی وسیله

وسیله دَنبی ﷺ ده قرآن له ښکاره
دَاسلام دَمذهب هربیان له ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره تـوله مدام نورانی وسیله
دَ فلاح پـه جهان ابدی وسیله
دَ وحدت پـه جهان لاره دلته یوه
دجنت پـه جهان لاره دلته یوه
کامیابی ،زندگی ،نورانی وسیله
دَ فلاح پـه جهان ابدی وسیله
دَ فلاح طلبگار دَ اسلام کړی دفاع
دَ حضور ﷺ پیروکار دَ اسلام کړی دفاع
جوړه کړي احمد شاعری وسیله
دَ فلاح پـه جهان ابدی وسیله

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 40 )

دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
بهترینه اعلا نورانی طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
هرادا دَ نبی ﷺ خوشبوئی طریقه
تل وینا دَ نبی ﷺ خوشبوئی خوشبوئی
بدلوی دلته کښې زندگی طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
دَ محفل حُسن دا هرطرف ته مدام
دَ بشر حُسن دا هرطرف ته تمام



مسلمان دلته دا خپلوُی طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
ده محشر له توښه هر بشر له اعلا
لر او بر له توښه ، هر بشر له بالا
دَ خیر خواد جهان مدنی ﷺ طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
دا ماحول جوړوی ښهٔ حسین پـه هرلور
دا ماحول جوړوی بهترین پـه هرلور
مونږ ته پریښې پوره ده مکی ﷺ طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
ذریعه دَ محشر دَ کوثر دَ حُصول
وسیله پـه محشر ده مولیٰ ته قبول
دَ جنت دَ حصول ابدی طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه
دَ محشر شفاعت ورسره ځنگ پـه ځنگ
دَ اسلام ورسره احمده ! حُسن رنگ
لری داسې تمام هاشمی ﷺ طریقه
دَ فلاح ذریعه دَ نبی ﷺ طریقه

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 41 )

دَ مولا دَ رضا ذریعه ذریعه

دَ حضور ﷺ دَ جانان ﷺ طریقه طریقه
ده په تُول هر ساعت ښۀ پوره ښۀ پوره
دَ محبوب دوجهان طریقه طریقه
خوشبوئی هر ادا دَ نبی ﷺ په جهان
خوشبوئی هر ادا دَ نبی ﷺ هر بیان
دَ رحمت ښۀ پوره وسیله وسیله
دَ حضور ﷺ دَ جانان ﷺ طریقه طریقه
خوشحالی دَ محشر هر بشر له هرخوا
کامیابی دَ محشر لر او بر له هرخوا
دَ جنت دَ حُصول ذریعه ذریعه
دَ حضور ﷺ دَ جانان ﷺ طریقه طریقه
قیمتی په جهان له هر څۀ دلته دا
طریقه دَ جانان ﷺ طریقو کښې بالا
نورانی نورانی هر حصه هر حصه
دَ حضور ﷺ دَ جانان ﷺ طریقه طریقه
دا سنت شریعت اے احمده ! حسین
بهترین بهترین طریقه دا آمین
په محشر کښې لری دا صله دا صله
دَ حضور ﷺ دَ جانان ﷺ طریقه طریقه
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 42 )

درود سلام سره پکار ده تذکره دَ نبی ﷺ
لاره دَ ټولو دَ نجات ده طریقه دَ نبی ﷺ
دی ثوابونه سلامونه په نبی ﷺ وئیل
دی ثوابونه درودونه ابدی وئیل
دَ قُربت دلته برابره وسیله دَ نبی ﷺ
لاره دَ ټولو دَ نجات ده طریقه دَ نبی ﷺ
دی ملغلرے دَ جهان دا اداگانې ټولې
دی ملغلرے عالیشان دا اداگانې ټولې
دَ شفاعت دَ پیغمبر ﷺ ده ذریعه دَ نبی ﷺ
لاره دَ ټولو دَ نجات ده طریقه دَ نبی ﷺ
ده خوشبوداره مسلمانه ! ورته غوږ اُونیسه
ډیره بالا ده عالیشانه ورته غوږ اُونیسه
هره وینا دَ پیغمبر ﷺ هره جُمله دَ نبی ﷺ
لاره دَ ټولو دَ نجات ده طریقه دَ نبی ﷺ
دغه ایمان لری احمد دغه یقین دلته کښې
بالا جانان ﷺ لری احمد زیات حسین دلته کښې
نورانی ټوله دَ سیرت هره حصه دَ نبی ﷺ
لاره دَ ټولو دَ نجات ده طریقه دَ نبی ﷺ
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 43 )

راغے راغے حضور ﷺ راغے راغے آقا ﷺ
محمد ﷺ مصطفیٰ ﷺ، محمد مصطفیٰ ﷺ
غلامی بنده شوه دَ شیطان په لور
ورسره ختم شو دَ باطل قُوَت زُور
وران پوره شو دَ شیطان لعین کُور
مړ شو بل ورسره دَ کسرئ دَ کور اُور
موسم ټول شو بدل، هرطرف شو رڼا
راغے راغے حضور ﷺ راغے راغے آقا ﷺ
شرك دُنیا نه رُورُو په هرلورشو رخصت
رَوَان هرخوانه شو کینه بُغض نفرت
ماحول جوړ شو تمام دلته دَ اُخوَت
راغے راغے پوره په هرلور محبت
راغے راغے محبوب په دُنیا دَ مولیٰ
راغے راغے حضور ﷺ راغے راغے آقا ﷺ
بدلون راغے پوره په هرلور تمام
راغے راغے بالا دَ مولیٰ حق کلام
راغے راغے سکون په هرلور آرام
خوشحالي جوړے شوے دلته په هر مقام
خوشبوئی راغله، معطّر شوه فضا
راغے راغے حضور ﷺ راغے راغے آقا ﷺ



طریقه راغله دَ حضور ﷺ دَ سنت
وسیله راغله په دُنیا دَ جنت
وسیله راغله دَ سکون دَ راحت
هر بشر شو بالا ورسره ډیر اُوچت
پسرلے راغے اے احمده ! هرخوا
راغے راغے حضور ﷺ راغے راغے آقا ﷺ
اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَّعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 44 )

دَ رحمتونو شورو شوے دے باران
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
محبوب راغلے دَ مولیٰ غنی سبحان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
میاشت دَ ربیع الاول
ښکلي حسین شو هر محل
راغے نبیانو کښې افضل
امام دے خاتم الرُّسُل
راغے حسین ښکلي انسان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
دَ مرحبا دی آوازونه
ورسره راغلل رحمتونه
عام په دُنیا شو برکتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام شوروشو درودونه
راغے هرخواته په هرلوراطمینان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
ښکلي ورسره دا دُنیا شوه
اعلا اعلا شوله بالا شوه
هره کوڅه رڼا رڼا شوه
ښکلي حسینه پاس فضا شوه
ورسره هرخواته هرکور شولو ودان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
مخ دَ شیطان شولو تك تُور
غالب په هر طرف شو نُور
زړونه تمام شو په سُرُور
راغے آقا ﷺ راغے حضور ﷺ
جوړه دُنیا شوه له ظالم نه په امان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
ډیر معجزاتو سره راغے
ښکلي صفاتوسره راغے
بالا عاداتو سره راغے
بیل په حالاتو سره راغے
شفیع راغلے دَ محشر دَ غټ میدان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ



شق القمر ئي معجزه ده
هره خبره ئي خوږه ده
بالا تمامه ئي اُسْوَة ده
په ټول صفاتو ښهٔ پوره ده
اخلاق پوره لری کامله ټول قرآن
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
ډیر مهربانه په هرچا دے
امین، صادقه په وینا دے
دَ مخلوقاتو خیرخوا دے
رڼا دُنیا کښې دَ صبا دے
دَ هغوی ذات دَ الله کرم دے احسان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
په هرشیطان باندي اُور بل شو
په بې ایمان باندي اُور بل شو
غلط انسان باندي اُور بل شو
غلط روان باندي اُور بل شو
پوره د ډیرو خلقو دلته شو ارمان
راغے حضور ﷺ، راغے جانان ﷺ
ښکلي عرب ښکلي عجم شو
ښکلي هر ښار ښکلي هر چم شو
جوړ دَ ظالم کُور کښې ماتم شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیطان خفه شو په ماتم شو
ښکلې دُنیا شوه ، ورسره بره اسمان
راغلے حضور ﷺ، راغلے جانان ﷺ
ښکلې تېول کور دَعبدالله ﷺ شو
منظر حسین پوره هرخوا شو
زیرې راښور داپه دُنیا شو
شیطان خفه شو په ژړا شو
خوشحاله تېول دَپیغمبر ﷺ دے خاندان
راغلے حضور ﷺ، راغلے جانان ﷺ
سپرلے سپرلے په تېول جهان شو
په تللو هرخواته خزان شو
خوشحاله زمکه شوه اسمان شو
خوشبو خوشبو هریو مکان شو
مات دَکعبې سره په خوا کښې شو بُتان
راغلے حضور ﷺ، راغلے جانان ﷺ
دَخپلې مُور دَزړهٔ تېکور دے
رڼا رڼا ورسره کُور دے
رڼا رڼا ورسره کُور دے
امن ورسره په هر لور دے
دلبر دَتېولو پاك حضور ﷺ دے
هغه غمخوار دَتېولو خلقو، عالیشان



راغلے حضور ﷺ،راغلے جانان ﷺ
ذکر د دوی چې کله کیږی
بیا رحمتونه راوریږی
زړهٔ ته سکون ملاویږی
خوشبو ماحول تمام جوړیږی
لری احمدعلی! هغوی داسې بیان
راغلے حضور ﷺ،راغلے جانان ﷺ
راغلے نبی اخرزمان ﷺ

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَّعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ( 45 )

پیدا کهٔ نهٔ وے په دُنیا زما جانان ﷺ دلته کښې
نهٔ دَسپرلی ذکر به وے ، نهٔ دَخزان دلته کښې
پیدا به نهٔ وو دا حسین ښکلې رنګونه دلته
پیدا به نهٔ وو دا حسین ښکلې ګلونه دلته
نهٔ دَسپوږمې دَحُسن وو به څهٔ بیان دلته کښې
پیدا کهٔ نهٔ وے په دُنیا زما جانان ﷺ دلته کښې
پیدا به نهٔ وو تېول دَزمکې مخلوقات حسین
پیدا به نهٔ وو د دُنیا دا کائنات حسین
پیدا به نهٔ وے بره بره پاس آسمان دلته کښې
پیدا کهٔ نهٔ وے په دُنیا زما جانان ﷺ دلته کښې
پیدا به نهٔ وے خوشبوئی دَ چمنونو تېولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيدا بــه نــۀ وے خـوشبـوئـى دَوطـنـونـو ټولـو
نۀ بـه وے ،نۀ بـه وے حسـيـن ښکلي دوران دلته کښي
پيدا کـۀ نـۀ وے پـه دُنيـا زما جانان ﷺ دلتـه کښي
پيدا بـه نـۀ وے پـه اَسمـان کښـي رڼا ستوري بـره
ډيـر زيـات پــه مينــه محبـت ورتــه ټول ګوري بـره
نـه بـه پـه سـر باندي موجود وو نمر روښان دلتـه کښي
پيدا کـۀ نـۀ وے پـه دُنيـا زما جانان ﷺ دلتـه کښي
نــۀ بــه دَلـوح اوقـلـم ذکـر پـــه دُنيـا کيـدلـو
نــه پـــه دُنيـــا بـــه ذکـر دلتـــه دَوفـا کيـدلـو
نـۀ پـه دُنيـا بـه وزيـران وے نۀ شاهان دلتـه کښـي
پيدا کـۀ نـۀ وے پـه دُنيـا زما جانان ﷺ دلتـه کښي
نــۀ بــه شـعـرونـه تـاليـکلـے مزيـدار وے دغـه
نـۀ بـه نعتـونـه تـاليـکلي دَتاجدار ﷺ وے دغه
نــۀ بــه احـمـده ! تـاليـکلـے وو ديـوان دلتــه کښـي
پيدا کـۀ نـۀ وے پـه دُنيـا زما جانان ﷺ دلتـه کښي

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ( 46 )

قـريـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـامـوس
دا ځـان قـربــانـوُم دَ عـاليشــان پــه نــامـوس
دَ ميـنـــي مـحبــت دَپـاره دغــه عـلامـت دے
اظهـــار پـــه دي پـوره پـوره زمـا دَ مـحبـت دے



دا ځـان قـربـانـوى هـر مسـلـمـان پـه نـاموس
قـربـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـاموس
خبــر دي وى پــوره پــوره دا خپـل او ټـول اغيــار
ورتـــه خبـــره دا کـــوُم پـــوره دلتـــه پـــه جـــار
قـربـان ورســره ټـول شـــه خـاندان پــه نـاموس
قـربـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـاموس
بـــاعـــث دَ زړونـو ټـولـو پـــه دُنيـا دَ اطـمـيـنـان
بُـنيـادزمـونـږ دَ ټـولـو پـــه دُنيـا کښـي ايمـان
مـحـفـوظ زمـونـږ دَ ټولو دا ايمـان پـه نـاموس
قـربـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـاموس
دَ عشــق پـــه لاره خــلـق دي تـمــام وى خبــردار
دَ عشــق پـــه لاره خــلـق دي مــدام وى خبـــردار
هــروخــت قــربــانيــږى عــاشقـان پـه نـاموس
قـربـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـاموس
دا حق دے حقيـقت دے دا حق پټ نۀ دے له چانه
دا حق دے حقيـقت دے دا حق پټ نۀ دے دُنيا نـه
تيـار دى قـربـانـي تــه عـالـمان پـه نـاموس
قـربـان زمـا بـدن شـه دَ جـانـان ﷺ پـه نـاموس
احـمـدعـلـى پـــه جـار ټولـو تـه کـړے ده ويـنـا
احـمـدعـلـى بـاربـار ټـولـو تـه کـړے ده ويـنـا
قـربـان شـــه مـــال وتـن سـره جهـان پـه نـاموس

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربان زما بدن شه دَ جانان ﷺ په ناموس

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّد وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 47 )

مدام مدحَ دَنبی ﷺ مدام مدحَ دَ جانان ﷺ
په شوق سره به کوُم ، هرطرف ته په جهان
وسیله دَ شفاعت په دُنیا دلته یوه
وسیله دَ هرعزت په دُنیا دلته یوه
دلته دا کوُم اعلان ، دلته داکوُم بیان
مدام مدحَ دَنبی ﷺ مدام مدحَ دَ جانان ﷺ
وسیله هم دَکوثر ، مسلمان له په محشر
دَفلاح په لر او بر ، هر بشر دې وی خبر
په دُنیا ټولې احسان ، دَمولیٰ غنی سبحان
مدام مدحَ دَنبی ﷺ مدام مدحَ دَ جانان ﷺ
دَ حضور ﷺ قُربت په دې ، هر بشر دَ پاره تل
دَ حضور ﷺ قُربت په دې لر او بر دَ پاره تل
مؤذن کوی اعلان ، مؤذن کوی اٰذان
مدام مدحَ دَنبی ﷺ مدام مدحَ دَ جانان ﷺ
ثوابونه دادی ډیر اے حمده ! په هر لور
ښکلا دلته کښې رڼا ، رحمتونه دَ هر کور
تذکره دَ قدردان ،دَ نبی اٰخر زمان ﷺ
مدام مدحَ دَنبی ﷺ مدام مدحَ دَ جانان ﷺ



اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّد وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 48 )

دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی
راله سکون دَ کائنات په هرحصه راکوی
دَ جفا هریوه نقشه ورسره ورانه ورانه
دَ جهل هریو بُت کده ورسره روانه روانه
راته کامله دَ اسلام پوره نقشه راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راته هرساعت مزه راکوی
کامل سیرت سره آگاه له حقیقت نه یُو ټول
په حق قرآن سره آگاه له هدایت نه یُو ټول
راله حسینه خوږ جانان ﷺ ښه طریقه راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی
آذان کښې ذکر ربّ نه وروستو دَ جانان ﷺ وی مدام
څنګ چې مونځونه کیږی هرخواته آذان وی مدام
مونږ له دَ خپل عمل یو ورځ به ربّ صله راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی
بقا کهٔ دلته دَ ایمان ده په کلمې سره ده
دَ خوږ جانان ﷺ دَ شریعت هریو حصې سره ده
دَ ربّ کرم دے چې مونږ له ښکلې توښه راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی
صادق، عادله په قوّت سره تمام قوی دی

پاس دَ اسمان ستوری وئیلی ورته خوږ نبی ﷺ دی
صحبت دَ هغوی مونږ ته ښکلي صحابهؓ راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی
لاثانی دلته په جهان تمام صفات دَ هغوی
په شمیر کښي نۀ راضی احمد کمالات دَ هغوی
اعلا بالا راته په تول ښۀ عقیده راکوی
دَ جانان ﷺ ذکر راله ډیره خوند مزه راکوی

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 49 )

ماته جانان ﷺ داسي دُنیا کښي طریقه راکوی
راته دَ ژوند دَ تیرولو یو ډیوه راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی
راته دَ ژوند دَ تیرولو یو ډیوه راکوی
حسین منظر دَ صحابهؓ سره دَ ناستي نه جوړ
په دیدن کله عاشقان به دَ جهان شی دوی موړ
هغه یادونه راته تول دا مدینه راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی
مینه سبق دَ محبت راته تمام پریښے دوی
سبق تمام دَ اُخوَت راته تمام پریښے دوی
دَ حدیثو دا سبق هریو حصه راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت نیشه دے نور څۀ ته کامیابي دَ پاره
طریقه دلته دا کافی ده بندګي دَ پاره
راله هر څۀ دا طریقه پوره پوره راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی
شکر په دي چي دَ حضور ﷺ یم اُمتی دلته کښي
دَ شفاعت یم اُمیدوار له مدنی ﷺ دلته کښي
خوند او مزه راله د دوی هریو نامه راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی
جام دَ کوثر چي ورله ورکړی اُمیدوار دلته دے
ددي دَ حشر په میدان ډیر طلبګار دلته دے
دَ کوثر جام چي وی حضور ﷺ وی دا مزه راکوی
درس دَ وفا دَ مصطفیٰ ﷺ تولـه اُسوَه راکوی

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 50 )

یادونه صرف زړۀ کښي دَ آقا ﷺ ښکلی ساتي
مدام دغه یادونه په دُنیا ښکلی ساتي
دا زړۀ ته اطمینان ورکوی دلته هر بشر ته
دا زړۀ ته اطمینان ورکوی دلته لر او بر ته
یادونه مدام زړۀ کښي دا اعلا ښکلی ساتي
یادونه صرف زړۀ کښي دَ آقا ﷺ ښکلی ساتي
خوشبو خوشبو تمامه هر بشر له دَ بدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبو خوشبو تمامه په دُنيا دَ هر چمن
يادونه دا په زړهٔ کښې خامخا ښکلي ساتي
يادونه صرف زړهٔ کښې دَ آقا ﷺ ښکلي ساتي
دَعشق او محبت دے په دُنيا کښې علامت
په دي باندې يَو شوي دے تمام پوره اُمت
ورسره دَ جانان ﷺ خوږه وينا ښکلي ساتي
يادونه صرف زړهٔ کښې دَ آقا ﷺ ښکلي ساتي
قرأن لرى اخلاق دغه اخلاق درنه هير نهٔ شى
ژوندون درنه دُنيا کښې دَدُنيا عبث تير نهٔ شى
دا نور او رڼا دلته خامخا ښکلي ساتي
يادونه صرف زړهٔ کښې دَ آقا ﷺ ښکلي ساتي
په دي باندې راضى به شى مولىٰ پروديگار
نصيب به شفاعت شى زمونږه دَ حُسندار ﷺ
اسباب تمام دُنيا کښې دَوفا ښکلي ساتي
يادونه صرف زړهٔ کښې دَ آقا ﷺ ښکلي ساتي
احمدعلى په جاروائى دُنيا کښې هر انسان ته
بار بار وائى بار بار وائى دُنيا کښې مسلمان ته
يادونه دَ فلاح ټول په هرخوا ښکلي ساتي
يادونه صرف زړهٔ کښې دَ آقا ﷺ ښکلي ساتي
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد



## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ( 51 )

درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چې يادوے
لازم دي دا په ټولو مصطفىٰ ﷺ چې يادوے
درود سره سکون راځى غمژن زړهٔ ته مدام
درود سره سکون راځى هرخوا په هر مقام
په جار وايمه وارے مجتبىٰ ﷺ چې يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چې يادوے
سبب دے په دُنيا کښې دَ حضور ﷺ دَ قُربت
په دي سره په زړهٔ کښې راځى مينه محبت
محبوب دَ کائنات دَ پاك اللّٰه چې يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چې يادوے
دَ حشر دَ ميدان دَ پاره ښهٔ اعلا توښه
دُنيا کښې مسلمان دَ پاره ښهٔ اعلا توښه
درود سره ، سلام سره طٰهٰ ﷺ چې يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چې يادوے
باعث دَ ثوابونو دلته کښې دغه عمل
ورسره مشکلات دَ انسانانو ډيرو حل
دلبر دَ ټول جهان بدرالدُّجىٰ ﷺ چې يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چې يادوے
سبب دَ شفاعت دَ هر بشر دَ پاره دا
سبب دے دَ قُربت دَ خوږ دلبر ﷺ دَ پاره دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



آقا ﷺ دَ ټولو خلقو رهنما ﷺ چي يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چي يادوے
سبب دے په محشر کښې دَ کوثر دَ ښکلي جام
په لاس به ملاويږي دَ نبی خير الانام ﷺ
په مينه محبت هغه خيرخوا چي يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چي يادوے
منم دَ رحمتونو لويه دلته وسيله
منم دَ جنتونو دَ حصول ده ذريعه
حضور ﷺ سره په مينه صحابهؓ چي يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چي يادوے
په دي سره هرچاته ملاويږي برکات
په دي خائسته وی دَ جهان ټول معاملات
محبوب هغه دلبر کله بيا بيا چي يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چي يادوے
احمدعلی په مينه تذکره کړی دَ هغوی
هرخواته تذکره په خوند مزه کړی دَ هغوی
اثر لری تمام حق مسيحا چي يادوے
درود وايه سلام وايه آقا ﷺ چي يادوے

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 52 )

چا چي دَ خپل جانان ﷺ سره په ژوند وفا اُوکړله



هغهٔ دَ ګټي په جهان دلته سودا اُوکړله
شيطان خفه خفه په دي سره مدام له دهٔ نه
شيطان خفه خفه په دي سره تمام له دهٔ نه
دَ خپل نبی ﷺ سره چي چا هم ملګرتيا اُوکړله
هغه اعلا دَ ګټي دلته کښي سودا اُوکړله
مدام وفا دَ پاك حضور ﷺ سره سبب دَ فلاح
قُربت پوره پوره دَ نُور سره سبب دَ فلاح
اقتدا دي بشر دُنيا کښي دَ مولیٰ اُوکړله
هغه اعلا دَ ګټي دلته کښي سودا اُوکړله
دا دَ کوثر دَ حاصلولو هرساعت وسيله
دَ شفاعت دَ پيغمبر ﷺ ده په قيامت وسيله
چا چي دَ خپل جانان ﷺ پوره نن اقتدا اُوکړله
هغه اعلا دَ ګټي دلته کښي سودا اُوکړله
وفا نبی ﷺ سره کول دَ جنتونو سبب
وفا نبی ﷺ سره کول دَ راحتونو سبب
چي چا دفاع په کائنات دَ مصطفیٰ ﷺ اُوکړله
هغه اعلا دَ ګټي دلته کښي سودا اُوکړله
دَ مصطفیٰ ﷺ چي اقتدا کړی عزت منده به وی
په هر محل په هرطرف ډير قدرمنده به وی
احمد وينا پوره پوره ټوله صفا اُوکړله
هغه اعلا دَ ګټي دلته کښي سودا اُوکړله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 53 )

بدلون دُنیا کښې هرطرف ته په وختونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
سپرلے دُنیا کښې دَ تمامو موسمونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
دَ کسریٰ حال شولو بدل ، لوستې به تا تاریخ وی
دَ هرخیز چال شولو بدل ، لوستې به تا تاریخ وی
خیر خوا دَ ټولو انسانانو دَ کورونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
یره پیدا شوله بیا شاه سره دَ روم په زمکه
خیرخوا راغلے په هرلور دَ هر مظلوم په زمکه
تسکین هرخوا ته په جهان زمونږ دَ زړونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
خبر دَ دین شول له ایمان شول بُت پرسته خلق
په نیغه لار باندې روان شول بُت پرسته خلق
خزان شو تیر ، وخت تمام ټولو ګلونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
لاړے تیرے دَ جهالت ، نُور رڼا ګانې شولے
لاړے تیرے دَ ضلالت ، تمام روانې شولے
سبب دُنیا کښې په جهان دَ برکتونو راغې



کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
دَ امنې بی بی په کور خوشحاله جوړه شوه
په هرطرف دَ خلقو ټوله زندګی جوړه شوه
په اعلا سوچ سره آقا ﷺ په دې فکرونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
دَ مدینې خلقو کتل ، په انتظار ورته وو
خلق تمام ورته ولاړ ، سترګې په لار ورته وو
خیر الوریٰ ﷺ په مبارکو قدمونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
په والضحیٰ سره قرآن هغوی مدام یادوی
دَ مُرسلانو هغوی دلته ټول امام یادوی
شپه دَ معراج وه بره پاس په آسمانونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
سلام درود ووایه کله چې د دوی ذکر وی
تمام درود ووایه کله چې د دوی ذکر وی
احمده! ذکر چې ستا کله په شعرونو راغې
کله جانان ﷺ چې په دُنیا دَ رحمتونو راغې
سبب دُنیا کښې دَ تمامو راحتونو راغې
سپرلے دُنیا کښې دَ تمامو موسمونو راغې
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 54 )

راځے چې دَ نبی ﷺ اخرزمان ﷺ خبري اُوکړو
دَ مینې محبت په دي جهان خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
په جمع دَ آقا ﷺ دَ خاندان خبري اُوکړو
دَ زړونو دَ سکون زمونږ دَ ټولو وسیله
دَ ښهٔ ښکلی ژوندون زمونږ دَ ټولو وسیله
په ډیر زیات ادب دَ قدردان خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
په مدحه دَ جانان ﷺ به ثوابونه ملاویږی
په مدحه دَ جانان ﷺ باندي دا زړونه خوشحالیږی
راځے چې دَ جانان ﷺ ښکاره عیان خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
ښُکلا په کائنات کښې دَ دُنیا دَ هر محفل
بالا دے عملونو کښې دا دلته له ازل
په شوق او محبت دَ مهربان ﷺ خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
دَ زړهٔ ټکور دَ پاره مدام دلته وسیله
دَ زړهٔ ټکور دَ پاره تمام دلته ذریعه
راځے چې دَ حدیث او دَ قرآن خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو



خوشبو خوشبو تمام دے دَ رسول اللّٰه ﷺ صفت
خوشبو خوشبو تمام دے دَ رسول اللّٰه ﷺ سیرت
دَ هریوي ادا چې دَ سلطان ﷺ خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
ورسره هر بشر باندي لازم درود سلام
ذکر چې کله کیږی دَ نبی خیر الانام ﷺ
لازم دی چې د هغې خوږ انسان خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو
غمخوار احمده ! دلته کښې دَ ټولو انسانانو
یو سیورے دَ رحمت زمونږ دَ ټولو مؤمنانو
راځے چې دَ هغوی دلته دَ شان خبري اُوکړو
راځے چې ټول په جمع دَ جانان ﷺ خبري اُوکړو

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّد وَ عَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 55 )

زړهٔ کښې دلته ده پکار ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
هم په پټه هم په جار ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
مینه زړونو له سکون ، هر بشر پوره خبر
مینه زړونو له سکون ، لر او بر پوره خبر
زړونو له مدام قرار ، مینه صرف دَ جانان ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نبیانو دَ سردار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
مینه حُسن دَ محفل ، هر بشرته پته
مینه حُسن له ازل ، لرا وبرته پته
ځان خبر کړه په ګفتار ،مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
مینه حکم دَ مولیٰ ،دَ محبوب سره مدام
مینه حکم دَ مولیٰ ، دَ مطلوب سره مدام
محبوب سیدالابرار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
مینه زړونو له ترون ، هرطرف ته په عالم
مینه اصل کښې ژوندون ، هرطرف ته په عالم
دَ قُربت ښکاره اظهار ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
مینه قُرب دَ پیغمبر ﷺ، وسیله دَ شفاعت
دَ ژوندون ښکلې سحر ، اے احمده ! هرساعت
ډیر اُوچت لری کردار ، مینه صرف دَ جانان ﷺ
دَ نبیانو دَ سردار ﷺ، مینه صرف دَ جانان ﷺ

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ آلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 56 )

فلاح ده دلته رښا اُسوَه کښې
دَ پاك حضور ﷺ په طریقه کښې



رښا رښا ده پوره تمامه
اعلا بالا ده پوره تمامه
خوشبو تمامه ده ګلدسته کښې
فلاح ده دلته رښا اُسوَه کښې
سبب جنت له په هر قدم دے
ښُکلا حُسن دَ هریو چم دے
سپوږمې ښکاره په توره شپه کښې
فلاح ده دلته رښا اُسوَه کښې
وسیله دلته دَ هر عزت ده
وسیله دلته دَ شفاعت ده
نیشته دے شك دې وسیله کښې
فلاح ده دلته رښا اُسوَه کښې
وسیله دلته هم دَ کوثر ده
دَ قُرب ذریعه دَ پیغمبر ﷺ ده
یاده احمد کړه هر جمله کښې
فلاح ده دلته رښا اُسوَه کښې

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ آلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 57 )

څهٔ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
شفیع المذنبین ، خیر الابرار ﷺ وی ورسره
نهٔ یره به په زړهٔ لری محشر کښې هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



محشر کښې چې حالات وی هرطرف ته تمام سخت
دَ پاك رسول اللّه ﷺ چې هریو یار وی ورسره
څۀ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
عمل به دَ حساب ورته تمام شی تول آسان
په زړۀ کښې چې رڼا لری تمامه دَ قرآن
په ژوند کښې طریقه چې دَ سردار ﷺ وی ورسره
څۀ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
حالات به ورته هلته کښې تمام تول اسانیږی
بدعت نه په دُنیا کښې چې څوك دلته لرے کیږی
بیا څۀ به کړی غمونه چې غمخوار ﷺ وی ورسره
څۀ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
نامه اعمال به دۀ ته هم په ښی لاس ملاویږی
په پُل صراط هم به په اسانه ورتیریږی
دولت چې دَ فلاح په هریو لار وی ورسره
څۀ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
احمده ! خوش نصیبه هغه خلق دی تمام
دَ چا چې مقتدا دے محمد خیر الانام ﷺ
اعمال چې په محشر کښې خوشبودار وی ورسره
څۀ غم به محشر کړی چې دلدار ﷺ وی ورسره
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 58 )

په هر قدم خوشبو چې دَ ایمان وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی چې خوږ جانان ﷺ وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی چې نور رڼا لری کامله
دَ څه غم به کوی حُسن دا لری کامله
اعلا درنه توښه چې دَ میزان وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی چې خوږ جانان ﷺ وی ورسره
اعلا لری په ژوند چې طریقه دَ پیغمبر ﷺ
اعلا لری په ژوند کښې چې اُسوَه دَ پیغمبر ﷺ
محشر وی او سینه کښې چې قرآن وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی چې خوږ جانان ﷺ وی ورسره
په لار دَ صحابهؓ چې څوك پوره پوره روان وی
په لار دَ صحابهؓ چې وی هغه به قدردان وی
په هر قدم چې دا تول امامان وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی چې خوږ جانان ﷺ وی ورسره
اخلاص وی عبادت چې کوی څوك دَ یو اللّه
احمده ! اطاعت چې کوی څوك دَ یو اللّه
فلاح له چې کامل پوره سامان وی ورسره
دَ څۀ غم به کوی خوږ جانان ﷺ وی ورسره
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 59 )

ځائي هغه جنت تمام ، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي ښکلي اُوچت مقام ، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
هلته وروولی پوره ، هلته خوشحالی پوره
ژوند کښي سادگی پوره ، ژوند کښي عاجزی پوره
هرخواته راحت آرام، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي هغه جنت تمام ، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
هلته دَ قرآن رڼا ، هلته دَ جانان ﷺ رڼا
هرخوا هر مکان رڼا ، ژوند ددي جهان رڼا
هلته دے نازل کلام، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي هغه جنت تمام ، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
هلته خوشبوئی دَ دین ، هلته زندگی حسین
هلته کښي صادق امین ، خوښ دَ ربُّ العٰلمین
هلته کښي هریو انعام ،چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي هغه جنت تمام، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
هلته کښي تیري نیشته ، نیشته نفرتونه هم
ظلم او زیاتي نیشته ، نور شته صفتونه هم
هلته کښي سپرلي مدام، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي هغه جنت تمام، چرته چي آقا ﷺ اُوسی
هلته شته حجره ښکلي ، هریوه نقشته ښکلي
ښه بالا رُتبه ښکلي ، احمده ! حصه ښکلي



محل دَ درود سلام ،چرته چي آقا ﷺ اُوسی
ځائي هغه جنت تمام ، چرته چي آقا ﷺ اُوسی

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 60 )

ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم
زۀ خیر الوریٰ ﷺ له ځم
دلته کښي ژوندون دے ګران
لرے یم بیلتون دے ګران
کله به طۀ ﷺ له ځم
ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم
دا لرم طلب مدام
غوارمه سکون تمام
خپل طبیب اعلا له ځم
ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم
ځم دَ مدیني په لور
ځم دَ ښني روضي په لور
نور له ځم ، رڼا له ځم
ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم
ځمه رحمتونو له
ښکلي محفلونو له
حُسن له ، ښکلا له ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم
لري پاکستان کښې یم
زهٔ احمد مردان کښې یم
کله به خیر خوا ﷺ له ځم
ګل له ځم ، آقا ﷺ له ځم

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (61)

رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم
ځم دَ مدینې په لور، ګل له ګلستان له ځم
دلته بیقراره یم ، زړهٔ مې اطمینان غواړی
دلته بیقراره یم ، دیدن دَ جانان ﷺ غواړی
نور نهٔ پاتې کیږمه ، سکون اطمینان له ځم
رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم
ځمه هغې ښار تهٔ ځم ، هلته مې جانان ﷺ اُوسی
ځم هغې ګلزار ته ځم ، هلته قدردان ﷺ اُوسی
نور نهٔ ایساریږمه، خوږ نبی سلطان ﷺ له ځم
رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم
هلته دیدنونه به مدام دَ روضې کوم
هلته دیدنونه به مدام دَ جنګلې کوُم
جنت البقیع ته به حضرت عثمانؓ له ځم
رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم



هلته سلامونه به وایم په ادب سره
په ادب ولاړ به یم هلته هر مکتب سره
ښکلې محفلونو له، ځمه مهربان ﷺ له ځم
رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم
دغه تمنا لری دلته کښې احمدعلی
غواړی دَ جانان ﷺ دیدن دلته کښې هر یو ولی
خوښ دي دَ مولیٰ ښهٔ ډیر ، هغې خوږ انسان ﷺ له ځم
رُو رُو روانیږمه ، ځمه خپل جانان ﷺ له ځم

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 62 )

ځم دَ مدینې په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم
ځمه خپل محبوب لره ، زهٔ دَ زړهٔ قرار له ځم
نور نهٔ پاتې کیږمه ، بس دے روانیږه
نور دلته تنګیږمه ، مصطفیٰ غمخوار ﷺ له ځم
ځم دَ مدینې په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم
ژوند راته شو ګران دلته ، تنګ یم په جهان دلته
نیشته اطمینان دلته ، وطن خوشبودار له ځم
ځم دَ مدینې په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم
هلته رحمتونه دی، هلته سلامونه دی
دَ حضور ﷺ یادونه دی ، در ښکلې دربار له ځم
ځم دَ مدینې په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته کښي حجره رڼا ، هریوه کوڅه رڼا
هریوه حصه رڼا ، نور له ځم انوار له ځم
ځم دَ مدیني په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم
هلته دَ بقیع جنت ، هلته کښي سکون راحت
هلته کښي موجود حضرت ﷺ ،ځمه حُسندار ﷺ له ځم
ځم دَ مدیني په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم
حق احمد بیان لری ، خیال چي جانان ﷺ لری
د دیدن ارمان لری ،کله به تاجدار ﷺ له ځم
ځم دَ مدیني په لور ، زهٔ خیر الابرار ﷺ له ځم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 63 )

خوښه په دُنیا دَ مصطفیٰ ﷺ هره ادا زما
سمي ملغلري لری ټول سیرت آقا ﷺ زما
هرچاته دَ میني محبت سبق په جار ښائی
هرچاته دُنیا کښي دَ فلاح ښهٔ سَمَه لار ښائی
هریوه خبره ښه درنه راته دَ کار ښائی
درراته دُنیاته دلعلونو ،دَانوار ښائی
داسي لری دلته طریقه خیر الوریٰ ﷺ زما
سمي ملغلري لری ټول سیرت آقا ﷺ زما
سمي ملغلري دَ حضور ﷺ ټولي خبري دی
ژوندله دَبقا هم دَ سُرور ټولي خبري دی



ښکلي دَ اخلاقو دَ دستور ټولي خبري دی
دَ اعلا بشر دَ اعلا نُور ټولي خبري دی
خوښه دا شیرینه ، ښه صفا رڼا وینا زما
سمي ملغلري لری ټول سیرت آقا ﷺ زما
بیل مقام جُدا لری اصحابؓ دَ پیغمبر ﷺ تمام
رُتبه ښهٔ بالا لری اصحابؓ دَ پیغمبر ﷺ تمام
ژوند کښي نُور رڼا لری اصحابؓ دَ پیغمبر ﷺ تمام
خوشبوئی ښکلا لری اصحابؓ دَ پیغمبر ﷺ تمام
ستوری دَ اسمان دی ، مقتدیان دَ مقتدا ﷺ زما
سمي ملغلري لری ټول سیرت آقا ﷺ زما
بالا په نسب سره ، دادلته حقیقت ښکاره
اعلا مذهبونو کښي زمونږه شریعت ښکاره
تل مخالفت کوی دُنیا کښي دَ بدعت ښکاره
لویه مرتبه لری د هغوی ټول اُمت ښکاره
شفیع دَ محشر په میدان مجتبیٰ ﷺ هرخوا زما
سمي ملغلري لری ټول سیرت آقا ﷺ زما
اُوسی مدینه کښي ، مدینه ورسره ښکلي ده
اُوسی مدینه کښي هرکوڅه ورسره ښکلي ده
اُوسی مدینه کښي ، هم حجره ورسره ښکلي ده
احمده ! تمامه هرحصه ورسره ښکلي ده
ساقی دَ کوثر دَ پاره په در دَ مولیٰ زما

سمي ملغلري لرى تول سيرت آقا ﷺ زما

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 64 )

دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه
پوره پوره پيروکار دَ حق قرآن جوړ شه
په سنت باندي روان شه دَ نبيانو دَ سردار ﷺ
په سنت باندي روان شه دَ محبوب خير الابرار ﷺ
مستحق دَ جنتونو دَ مکان جوړ شه
دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه
په سنت باندي روان شه پوره پوره برابر
په سنت باندي روان شه دَجانان خير البشر ﷺ
عزت داره په دي کار په هر ميدان جوړ شه
دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه
خوشبوئی دَ هربشر دَ پاره دلته په هر لور
زندگی دَ هربشر دَ پاره دلته په هر لور
ددي اعلا خوشبوئی ښۀ قدردان جوړ شه
دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه
ثوابونه دَ محشر دَ پاره دي سره مدام
ډيراجرونه ورسره ترلی دی په هر مقام
په دي دلته حق پرسته مسلمان جوړ شه
دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محشر دَ شفاعت وسيله دلته کښي يوه
دَ کوثر دَ هر عزت وسيله دلته کښي يوه
ورسره! مدام احمده! مدح خوان جوړ شه
دَ سنت په نُوررنا ښکلي انسان جوړ شه

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 65 )

په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
مستحق دَ ثوابونو په جهان جوړ شه
واخله واخله دَ فلاح دا طريقه
واخله واخله دَ فلاح اعلا توښه
قدردان په دي سره په هر مکان جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
دَ مولیٰ دَ رضا دلته کښي سبب دے
بُنياد دلته کښي زمونږه دَ مذهب دے
اختونکي د ګلونو دَ ريحان جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
ملاوېږی په دي قُرب دَ پيغمبر ﷺ
خوشحالېږی په دي سيدالبشر ﷺ
عمل کولو والا دلته په قرآن جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
دَ محشر ګټه دُنيا کښي مسلمان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محشر ګټه دُنيا کښي هر انسان له
خوشحالولو والا دلته دَ سبحان جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
جنتونو له دُنيا کښي وسيله ده
دَ محشر تله په دي سره درنه ده
فکر کولو والا دلته دَ ميزان جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
دَ کوثر حاصلوُل په دي سره دی
کامياب خلق دَ حضور ﷺ په طريقه دی
مخالف په دي سره دَ هر شيطان جوړ شه
په سنت باندي عمل کړه ، عاليشان جوړشه
دَ اسلام دَ شريعت دغه وينا ده
ما احمدعلی ليکلي دلته دا ده
خوشحالولو والا دلته دَ جانان ﷺ جوړ شه
مستحق دَ ثوابونو په جهان جوړ شه

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفٰی ﷺ ( 66 )

لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
لاره دَ نعمتونو دَ ګلزار مۀ پريږده
تانيغ به رسوی دَ جنتونو په طرف
تا نيغ به رسوی دَ نعمتونو په طرف



لاره دَ مُرسلانو دَ سردار ﷺ مۀ پريږده
لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
عزت ورسره دلته کښي موجود په هر قدم
عظمت ورسره دلته کښي ترلي په عالم
لاره دَ پسرلی ، لار دَ وقار مۀ پريږده
لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
اظهار دَ محبت ورسره دلته کښي درود
رضا ورسره دلته کښي ترلي دَ معبود
وينا درود سلام پټه په جار مۀ پريږده
لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
مَل اُوسه په دُنيا دَ حق پرسته علماء
مَل اُوسه دلته کښي په هر طرف دَ اولياء
لاره دَ عاشقانو دَ غمخوار ﷺ مۀ پريږده
لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
خائسته کړۀ په سنت سره تمام دغه عمل
خائسته په يادونو دَ جانان ﷺ سره محفل
دَ زړۀ سکون په کښي دے حق ګفتار مۀ پريږده
لمن دَ محمد خير الابرار ﷺ مۀ پريږده
اصحابؓ دَ محمد ﷺ په دغي لار باندي مئين وو
اصحابؓ دَ محمد ﷺ ورسره دلته تول حسين وو
ستوری دَ رڼاګانو دَ دلدار ﷺ مۀ پريږده

لاره دَ نعمتونو دَ ګلزار مۀ پریږده
کۀ قُرب دَ محمد رسول الله ﷺ غواړے محشر کښې
احمده ! کۀ کوثر غواړے محبوب نه هغې در کښې
دفاع دَ خپل محبوب دَ حقې لار مۀ پریږده
لاره دَ نعمتونو دَ ګلزار مۀ پریږده

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 67 )

وحی په جهان ښکلې دلته کښې ګفتار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سیّد الابرار ﷺ لری
زُلف دَ والیل لری ، هر بشر خبر په دې
زلف دَ والیل لری ، لراو بر خبر په دې
سیرت تمام حسین ، کامل خوشبودار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
نفسی نفسی هر کله جوړ چې آوازونه دی
دَ خپل ځان په هر طرف ، کله چې فکرونه وی
فکر دَ امت تمام مصطفیٰ غمخوار ﷺ لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
هر یو ي ادا سره بیل په کائنات هغه
ټولو مخلوقاتو کښې اعلا په صفات هغه
ستوري دَ اسمان بره ، هر یو دلته یار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه کښې دَ معراج تلے بره آسمانونو ته
اُوکړه دَ اَسریٰ سورت غور اَیاتونو ته
ملاقات مولیٰ سره زمونږه تاجدار ﷺ لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
شپه کښې دَ هجرت حضور ﷺ صدیق اکبرؓ سره
ځی دَ مدینې په لور ډیر حسین منظر سره
ناسته دَ صدیقؓ سره لاره کښې دَ غار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
خوندئي صفتونه کړی دلته کښې په هر محل
خوندئي دا نعتونه کړی دلته کښې په هر محل
سمه دَ جنت حصه ، مرتبه مزار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
یٰسین په طٰهٰ سره ، ډیر ښکلی نومونه دا
غواړی مونږ نه دلته کښې سلام درودونه دا
الم نشرح بیا سینه ډکه له انوار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری
مدحه دَ نبی ﷺ کوُم زۀ احمد په جار پوره
لیکلم دَ نبی ﷺ صفت ، زړۀ له دے قرار پوره
هر یوه دوا علاج دلته دَ بیمار لری
دا مقام زمونږ نبی ﷺ سید الابرار ﷺ لری

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 68 )

لازم ده زړه کښې مینه دَ حضور ﷺ خامخا
په ژوند کښې طریقه پوره دَ نُور خامخا
دا دواړه بُنیادونه په هرلور دَ کامیابي دی
دا دواړه بُنیادونه ښهٔ دَ ښکلي ژندګي دی
په ژوند کښې دی پکار دواړه ضرور خامخا
لازم ده زړه کښې مینه دَ حضور ﷺ خامخا
مولا ورسره دلته په هرلور راضي کیږي
زړونو ته ورسره پوره سکون ملاویږي
صحیح ورسره وی دَ ژوند اُمور خامخا
لازم ده زړه کښې مینه دَ حضور ﷺ خامخا
ظلمت له ختموی په هرقدم دَ هر بشر
ژوندون کښې راولي په هر طرف رڼا سحر
ختمیږي ورسره هریو ناسُور خامخا
لازم ده زړه کښې مینه دَ حضور ﷺ خامخا
دَ قُرب ذریعه بله دَ نبي خیر الانام ﷺ
سبب دَ شفاعت دَ پیغمبر ﷺ پوره تمام
احمده ! اخستل حُسن ، سُرور خامخا
لازم ده زړه کښې مینه دَ حضور ﷺ خامخا
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 69 )

چې دَ نبي ﷺ په لار روان وی هله
سکون سره ژوند دَ انسان وی هله
په اَمن وی له هر شیطان نه هغه
په اَمن وی له هر نقصان نه هغه
ورسره مَل به اطمینان وی هله
چې دَ نبي ﷺ په لار روان وی هله
نهٔ به تیارهٔ ددهٔ په لاره کښې وی
انوار ښوارهٔ ددهٔ په لاره کښې وی
مَل په هرلور چې دَ قرآن وی هله
چې دَ نبي ﷺ په لار روان وی هله
خوشبو ددین دَ شریعت به لري
سر په هریو محل اُوچت به لري
چې ئې نیکان خلق دوستان وی هله
چې دَ نبي ﷺ په لار روان وی هله
مَل دَرحمت سره دُنیا کښې به وی
مدام عزت سره دُنیا کښې به وی
چې ئې ملګری صادقان وی هله
چې دَ نبي ﷺ په لار روان وی هله
توښه اعلا به دَ محشر ښهٔ لري
احمده ! ژوند چې معطر ښهٔ لري

راضی له دهٔ نه به رحمٰن وی هله
چې دَ نبی ﷺ په لار روان وی هله

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 70 )

خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
ژوندون رښا کیږی دَ حضور ﷺ په طریقې سره
نورې وسیلې دَ فلاح نیشته په جهان دلته
نورې ذریعې دَ فلاح نیشته دَ انسان دلته
ځان نه ربّ راضی کړه دَ محبوب ﷺ په ذریعې سره
خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
پریږده بدعتونه دَ سنت رڼا حاصله کړه
پریږده ظلموته دَ سنت رڼا حاصله کړه
آغاز دَ ژوند اُوکړه، په اخلاص سره توبې سره
خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
مینه محبت راځی چې لری نفرتونه شی
مینه محبت راځی چې لری تورتمونه شی
عشق لری چې څوك هم دَ محبوب دَ عقیدې سره
خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
هرخواته اسباب به دَ فلاح ورته جوړیږی تل
ژوند کښې په هرلور ددهٔ کارونه ټول سمیږی تل
څوك چې کلك ولاړ وی دَ اسلام هرفیصلې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library


خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
هرقدم به دلته دَ جنت په لاره ځکه ږدی
هرقدم به دلته دَ عظمت په لاره ځکه ږدی
ژوند لری چې دلته دَ اصحابوؓ ګلدستې سره
خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره
ټول دی ثوابونه درودونه ورسره سلام
خوند کوی احمده! په دُنیا دلته کښې دا کلام
درود دے لازم دَ آقا ﷺ سره نامې سره
خلق کامیابیږی دَ حضور ﷺ په وسیلې سره

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 71 )

زهٔ ساتمه مینه ځکه دلته مدینې سره
بالا په جهان ده دَ نبی ﷺ ښکلې روضې سره
ځکه چې نسبت لری بالا په نسبتونو کښې
ګل دے خوشبوداره دَ جهان په ګلونو کښې
ځکه ساتم مینه هغې درکلی کوڅې سره
زهٔ ساتمه مینه ځکه دلته مدینې سره
هریوه حصه ئې نورانی ده په حضور ﷺ پوره
بیل جُدا مقام لری دُنیا کښې دا په نُور پوره
سکون په جهان لری مدام هرې حصې سره
زهٔ ساتمه مینه ځکه دلته مدینې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته کېني ياران دَ نبی ﷺ څنګ کېني دَ نبی ﷺ اُوسی
هلته کېني صديقؓ ، عمرؓ ، دوستان دَ مدنی ﷺ اُوسی
څنګ په څنګ اُوسيږی دَ جانان ﷺ دَباغيچي سره
زۀ ساتمه مينه څکه دلته مديني سره
هلته درودونه ورسره دَ سلامونو خوند
ډير لری اجرونه ، ورسره دَ محفلونو خوند
احمد درود وائی دَ جانان ﷺ دَ تذکري سره
زۀ ساتمه مينه څکه دلته مديني سره

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 72 )

ديدار دَ ښکلی جانان ﷺ زۀ غواړمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
دَ زړۀ تپکور دَ زړۀ سکون په جار
يمه له ربّ نه دلته طلبګار
دلته سکون هغه دَ زړۀ غواړمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
مدحه دَ خوږ نبی ﷺ په جار چي کوی
دَ خپلي ميني تل اظهار چي کوی
داسي بيان له ژبه خُله زۀ غواړمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
درود ، سلام دَ رحمتونو سبب



ژوند کېني اعلا دَ نعمتونو سبب
ټول عادتونه ښکلی ښۀ غواړمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
تراخۀ تراخۀ دي رانه لرے اُوسی
خلق کاږه دي رانه لرے اُوسی
دَ ميني ډك ګلونه سرۀ غواړمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
مينه مينه په هر طرف تمامه
رڼا سينه په هر طرف تمامه
چي دغه راشی نور به څۀ غواړمه ؟
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه
دَ حضور ﷺ ياد سره قلار احمده!
شيرين صفت لرے اشعار احمده !
څان له ، مخلوق له خواږۀ غوارمه
دا مي ارمان دے، نور څۀ نۀ غواړمه

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 73 )

په لار روان چي دَ جانان ﷺ وی کله
سکون سره په هر مکان وی هله
ورته په هر قدم رڼا رڼا وی
ورته نصيب مقام بالا بالا وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړی چې حقه لاره څوك بدله
په لار روان چې دَ جانان ﷺ وی کله
ورسره څنګ په څنګ خوشبو خوشبو وی
په تن دَ مینې رنګ خوشبو خوشبو وی
لرے چې نهٔ وی له اعلا مَحَلَه
په لار روان چې دَ جانان ﷺ وی کله
بدله دهٔ دی راحتونه دلته
بدله دهٔ دی رحمتونه دلته
مرضی چې نهٔ کوی څوك دلته خپله
په لار روان چې دَ جانان ﷺ وی کله
نصیب دَ دهٔ به وی کوثر ښهٔ اعلا
شفاعت هم دَ پیغمبر ﷺ ښهٔ اعلا
دَ حضور ﷺ عشق چې لری له ازله
په لار روان چې دَ جانان ﷺ وی کله
درود سلام ګټه محشر له دلته
شیرین کلام ګټه بشر له دلته
سنت احمده ! ډیوه دلته بله
په لار روان چې دَ جانان ﷺ وی کله

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 74 )

په نبیانو کښې چې خاتم الرُّسل ﷺ دے



په سیرت سره کامله، مکمّل دے
تذکره ئې عبادت په دې جهان ده
تذکره ئې یو حصه ددې ایمان ده
ورسره تمام ماحول دغه بدل دے
په سیرت سره کامله، مکمّل دے
خوشبوئې ئې تذکره په لړاو بر ده
زندګی په کائنات کښې دَ بشر ده
ورسره ښکلې حسین هریو محل دے
په سیرت سره کامله، مکمّل دے
لاثانی په هر ادا سره تمام دے
انبیاء ﷺ دَ پاره دلته کښې امام دے
مرسلانو ټولو کښې غوره افضل دے
په سیرت سره کامله، مکمّل دے
ساقی بل صفت لری په دې جهان
شفاعت صفت دَ حشر په میدان
مشکلاتو له په هریو میدان حل دے
په سیرت سره کامله، مکمّل دے
چې نامه ئې کله راشی درود وایه
داسبق هریو بشر ته په جار ښایه
مبارك لرونکے دلته هریو پَل دے
په سیرت سره کامله، مکمّل دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلامونه په هغوی باندې مدام
رحمتونه په هغوی باندې تمام
تول جهان لره دَامن زیرے تل دے
په سیرت سره کامله ، مکمل دے
هویر قول ئې دَ مولیٰ وحی تمامه
ځان خبر کړه په دُنیا له حق کلامه
لاثانی په هر صفت په تحمل دے
په سیرت سره کامله ، مکمل دے
ملغلرې دَ جهان ئې اداګانې
لاثانی لری احمده ! رنګانې
په سیرت حسین ، په ژوندون ګل دے
په سیرت سره کامله ، مکمل دے

## اَللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 75 )

ځی چې په نبی اٰخرزمان ﷺ پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے
تول سیرت کامله ، مکمل لری
هریو مسئلې له په ژوند حل لری
تلل دَ خوږ نبی ﷺ هریو بیان پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے
تول رنا رنا تمام سیرت لری



هریو ښۀ اعلا بالا صفت لری
تلل په خپل غمخوار او مهربان پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے
هریوه خبره دَ مولیٰ وحی
هریوه خبره لری ښۀ قوی
تلل دَ مُرسلانو په سلطان ﷺ پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے
مدحه ئې سکون تمام زمونږ
مدحه ئې ژوندون ژوندون تمام زمونږ
راشے کۀ څوك ګرځے اطمینان پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے
وائی درود څوك چې محبت لری
ژوند کښې به احمده ! هر سنت لری
تلل په هریو نور عظیم الشان پسے
تلل دی حقیقت کښې په قراٰن پسے

## اَللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 76 )

لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلې
نیغه لاره ، لاره دَ قراٰن ښکلې
نیغه لاره تلے دا جنت له ده
نیغه لاره تلے هر راحت له ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي سره دَ ژوند وی تول دوران ښکلي
لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلي
دي سره خوشبو په هر محل پوره
هریو مسئلي له ژوند کښي حل پوره
لاره نورانی دَ قدردان ښکلي
لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلي
ورسره ختمیږی هریو غم دَ زړهٔ
ښهٔ اعلا علاج په دي عالَم دَ زړهٔ
ورسره تول زړونه وی ودان ښکلي
لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلي
دا دَ شفاعت ذریعه دلته ده
دا دَ هر عزت ذریعه دلته ده
ورسره رحمت وی له آسمان ښکلي
لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلي
نیغه لاره دلته کښي دَ خپل نبی ﷺ
غوارم دَ اللّه نه دا احمدعلی
قُرب دَ پیغمبر ﷺ عظیم الشان ښکلي
لاره کړه اختیاره دَ جانان ﷺ ښکلي

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفٰی ﷺ ( 77 )

سحر سحر خیر البشر ﷺ



نظر نظر خیر البشر ﷺ
سکون سکون تمام زمونږ
سکون سکون آرام زمونږ
دَ لر او بر خیر البشر ﷺ
سحر سحر خیر البشر ﷺ
رنړا وفا دَ هر طرف
ښکلا اعلا دَ هر طرف
دَ زړګی سر خیر البشر ﷺ
سحر سحر خیر البشر ﷺ
خوشبو خوشبو دَ هر چمن
خیر له دي نه هریو تن
عطر عطر خیر البشر ﷺ
سحر سحر خیر البشر ﷺ
سپرلي تمام درود پوره
سلام رحمت وجود پوره
اختر اختر خیر البشر ﷺ
سحر سحر خیر البشر ﷺ
مدام امن مینه وفا
کردار سیرت پوره صفا
افسر افسر خیر البشر ﷺ
سحر سحر خیر البشر ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



علاج تمام دَ هر ريو غم
وجود سره تمام كرم
قيام، سفر، خير البشر ﷺ
سحر سحر خير البشر ﷺ
دَربِ كرم هر خوا مدد
عابد دَ يو اللّه احد
صبر، شكر، خير البشر ﷺ
سحر سحر خير البشر ﷺ
مداح احمد په هر قدم
دَ خپل محبوب په دي عالم
قمر قمر خير البشر ﷺ
سحر سحر خير البشر ﷺ

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ( 78 )

وفا ، وفا ، وجود وفا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما
دوا ، دوا ، شفا ، شفا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما
لرم نبى ﷺ داسي جانان ﷺ
رسول نبى اٰخر زمان ﷺ
باعث دَ زړونو اطمينان



وُجود كرم دَربِ احسان
وجود ربښتيا ، وجود حيا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما
اُستاذ مدام دَ خاص وعام
لقب لري خير الانام ﷺ
معراج كښي دَ رُسُل امام
وايه درود ، وايه سلام
دَربِ عطا ، بالا صفا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما
بهتر له بهترينو تل
قرار دَ صالحينو تل
افضل له اوّلينو تل
خير خوا دَ مؤمنينو تل
وجود تقوىٰ وُجود ښُكلا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما
خوشبو تمام سيرت سره
ممتاز په هر صفت سره
صادق په صداقت سره
امين په امانت سره
اعلا بالا ، باچا ، باچا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامل مکمل ذات سره
عالی په ټول صفات سره
احمده! کمالات سره
اعلیٰ په عبادات سره
دَژوند صبا ، دَژوند رڼا
آقا ﷺ زما ، آقا ﷺ زما

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 79 )

سحر سحر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
بشر بشر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
حسین هغه په ټول جهان
لرم یقین ، لرم ایمان
کرم ، عطا ، دَربّ احسان
اعلا بالا شیرین بیان
نظر نظر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
غمخوار دَ هر بشر هغه
غمخوار دَ لراوبر هغه
محبوب دَربّ اکبر هغه



محبوب دَ هر یو در هغه
قمر قمر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
حسین ، حُسن دَ هر یو چم
تمام عرب ، تمام عجم
مینه مینه ، وجود کرم
عالی اُوچت ، نرم نرم
رهبر رهبر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
شفیع په شفاعت سره
اعلا په هر صفت سره
کامل پوره سیرت سره
شاکر په هر نعمت سره
صبر ، شکر ، رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما
خوږه لری نامه درنه
اعلا ښه طریقه درنه
تمامه ښه اُسوه درنه
احمده! تذکره درنه
ذِکر ذِکر رڼا رڼا
محبوب زما ، آقا ﷺ زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 80 )

چې دَ چا پـه زړهٔ کښې مینـه دَ آقا ﷺ وی
هـر سـکـون ورسـره دلتـه خـامـخـا وی
درودونـه سـلامـونـه چې څـوك وائـي
دا سبق چې پـه دُنيـا کښې بـل تـه ښائـي
لـرے لـرے دا بشـر لـه هـر بـلا وی
چې دَ چا پـه زړهٔ کښې مینـه دَ آقا ﷺ وی
تـذکـرهٔ چې دَ جـانـان ﷺ سحـر ماښـام کـړي
وظيـفـه چې دلتـه دغـه دَ آرام کـړي
ورسـره پـه هـر قـدم بـه نُـور رنـا وی
چې دَ چا پـه زړهٔ کښې مینـه دَ آقا ﷺ وی
څوك چې اُوسی دَ محبوب ﷺ مدام پـه ياد کښې
خوشبوئی دَ عشق لـری چې پـه بُنياد کښې
ورسـره پـه هـر قـدم حُسـن ښـکـلا وی
چې دَ چا پـه زړهٔ کښې مینـه دَ آقا ﷺ وی
هـر سـاعـت دَ محبت سـره پـه خـنـگ وی
دَ اسـلام پـه رنـگ احـمـده! چې څوك رنـگ وی
تـل دِ دهٔ پـه ژبـه ښـهٔ خـوږه ويـنـا وی
چې دَ چا پـه زړهٔ کښې مینـه دَ آقا ﷺ وی

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 81 )

مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه دَ قـرآن سـره
مینـه چې وی کـلـمـه دَ نبی آخـرزمـان ﷺ سـره
دا بـه سـتـا دَ پـاره راحـتـونـه دَ جهـان وی
دا بـه سـتـا دَ پـاره دَ سـر سـيـوري عـاليشـان وی
مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه ده ایمـان سـره
مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه دَ قـرآن سـره
دا بـه وسيـلـه وی دَ جـنـت دَ پـاره تـالـه
دا بـه وسيـلـه وی هـر نـعـمـت دَ پـاره تـالـه
مینـه خپـل آقـا ﷺ سـره خیـر خوااو مهربان سره
مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه دَ قـرآن سـره
دا هـم وسيـلـه ده دَ محشـر دَ شـفـاعـت لويـه
تـل دا وسيـلـه ده دَ عـظـمـت دَ هـر عـزت لويـه
دا پـه واسـطې سـره ده مينـه پـاك سبحـان سره
مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه دَ قـرآن سـره
ښـهٔ ښـکـاره احـمـده! حق خبره تـا ليـکـلے ده
بـل تـه ښـهٔ واضحـه تـا وينـا حقـه ښودلے ده
سـاقـی کـوثـر ﷺ سـره ده مینـه اطمینـان سره
مینـه دَ جـانـان ﷺ سـره ده مینـه دَ قـرآن سـره

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 82 )

زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
دا زما دلته اعلان، محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند له ره سکون پوره پوره په لور
ورسره پوره حسين تمام دلته زما کور
دَرحمت سيوري عيان محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
ددُنيا حُسن بقا ورسره دلته مدام
ورسره په تذکره درود وايه هم سلام
دَمولا کرم احسان، محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
دَدُنيا حُسن بقا دلته کښي د دوی په ياد
ددُنيا تمام وُجود لره دلته کښي بُنياد
معجزه لری قرآن محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
په سيرت سره کامل، نوراني وجود بشر
رهنما دَکائنات دَهر لور په لر او بر
دَسر سيوري دَانسان محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
په اخلاقو لاثاني ډير عالي په شريعت
وجود سره نوراني، ټول وجود صفت صفت



پيغمبر ﷺ دَپاک سبحان ،محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ
ګناه ګارو له شفيع، ښۀ ښکاره په دي صفت
ياد ورته په هر طرف پوره پوره خپل اُمت
فکرمنده، مهربان، محمد رسول الله ﷺ
مدح خوان يم دَ هغوی هر ساعت په لر او بر
دَقُربت مي شی سبب دا مدحه دَخپل دلبر ﷺ
په ګفتار شيرين بيان، محمد رسول الله ﷺ
زما ژوند زما ایمان محمد رسول الله ﷺ

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَّعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 83 )

ډيره مزه کړی، کۀ کعبي ته لاړے
کۀ دَجانان ﷺ کلی کوڅي ته لاړے
ډير عاشقان مي ورروان اُوليدل
ډير طلبګار مي دَجهان اُوليدل
کۀ تۀ يو ځلے مدينے ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبي ته لاړے
يو ځائي سلام حجرِ اسود ته په جار
بل ځائي سلام دے په خير الابرار ﷺ
کۀ دَزمزم خوږي چينـي ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبي ته لاړے

سعی مکه کښې دَ مروه صفا شته
په کښې يادونه دَ آقا ﷺ اعلا شته
کۀ دَ انوار و دي چينې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
هغه منظر دَ خوش نصيب په نصيب
تل هغه در دَ خوش نصيب په نصيب
آقا ﷺ لره کۀ شنې روضې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
يوخوا مکه کښې طوافونه کيږی
رنګ په رنګ ډير عبادتونه کيږی
جاری کۀ تۀ هغې چينې ته لاړے
سلام ،درود دَ مدينې فضا کښې
آقا ﷺ سره خواته نزدې وينا کښې
دَ عائشې کۀ تۀ حجرې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
جنت به دلته په جهان وويني
په هر طرف به اطمينان وويني
کۀ دَ جنت هغې ټکړې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
ورته سفر، ورته کتل کوی خوند
خبر به شے په خوند مزه تۀ دَ ژوند



حضور ﷺ لره کۀ محلې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
سلام درود هلته په ژبه مدام
خوند کړی احمده !صرف دغه کلام
يو وار په ژوند کۀ دې حصې ته لاړے
ډيره مزه کړی، کۀ کعبې ته لاړے
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 84 )

غواړی مې زړۀ چې مدينې ته لاړے
زۀ دَ جانان ﷺ کلی کوڅې ته لاړے
هلته سحر، هلته ماښام وے زما
هلته ژوندون پوره تمام وے زما
مينه مينه هريو اندام وے زما
غواړی مې زړۀ چې دې چينې ته لاړے
غواړی مې زړۀ چې مدينې ته لاړے
تل سلامونه، ما درود وئيلے
دا وظيفه ما هر ساعت کولے
په پټه پټه په ادب ښۀ غلے
دَ عائشې بی بی حجرې ته لاړے
غواړی مې زړۀ چې مدينې ته لاړے
هغه منظر په ژوند ليدل غواړمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



در معطر په ژوند ليدل غوارمه
در منور په ژوند ليدل غوارمه
محبوب ﷺ لره هغي حصي ته لاړے
غواړی مي زړۀ چي مديني ته لاړے
دا تمنا په لر او بر دَ احمد
تل ده دعا شبه برابر دَ احمد
حسين كړي ربه! مقدر دَ احمد
مزه به اُوكړی، چي حجري ته لاړے
غواړی مي زړۀ چي مديني ته لاړے

اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ (85)

عشق چي لری زړۀ كښي مدينه ورته يادیږی
دَ محبوب وطن كلي كوڅه ورته يادیږی
دا دے علامت دَ ميني دلته په دُنيا كښي
نيشته دے شك نيشته دے زما په دي وينا كښي
دَ جانان ﷺ دَ كلي هر حصه ورته يادیږی
عشق چي لری زړۀ كښي مدينه ورته يادیږی
ډيره ورته گرانه جدائي وی له جانان ﷺ نه
گرانه جدائي وی دَ محبوب كلي مكان نه
دَ مولیٰ حسينه گلدسته ورته يادیږی
عشق چي لری زړۀ كښي مدينه ورته يادیږی



هر ساعت لری هغه وطن دَ ژوند خيالونو كښي
هر ساعت لری هغه چمن د ژوند خيالونو كښي
خامخا حسينه باغيچه ورته يادیږی
عشق چي لری زړۀ كښي مدينه ورته يادیږی
اے احمده! دلته كښي مدام دغه حالت لری
عشق چي په سينه كښي دَ آقا نبي حضرت ﷺ لری
هر ساعت په ژوند هغه روضه ورته يادیږی
عشق چي لری زړۀ كښي مدينه ورته يادیږی

اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّد وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 86 )

سترگي په ديدن دَ جانان ﷺ دا كله مړیږی
دَ محبوب وطن كلي له چا نه نه هيريږی
هر څوك دي خبر وی، حقيقت دغه تمام پوره
هر څوك دي خبروی دا اُمت دغه تمام پوره
ورسره دُنيا كښي تمام زړونه خوشحاليږی
سترگي په ديدن دَ جانان ﷺ دا كله مړیږی
زړۀ لره سكون وركوی دا هر چا ته پته ده
رڼا دَ ژوندون وركوی دا هر چا ته پته ده
زړونه چي بيمار وی ورسره هغه رغيږی
سترگي په ديدن دَ جانان ﷺ دا كله مړیږی
ورسره عظمت راځي، عزت راځي په هر طرف

هريوه خوشبو راځي ، راحت راځي په هرطرف
هوښياره عاقل چې وي په دې هغه پوهيږي
سترګې په ديدن دَ جانان ﷺ دا کله مړيږي
دا په حقيقت کښې بينائي دَ ټولو سترګو ده
دا په حقيقت کښې رڼائي دَ ټولو سترګو ده
ورسره نظر دَ جهان هرخواته تيزيږي
سترګې په ديدن دَ جانان ﷺ دا کله مړيږي
ورسره احمده! په ژوندون کښې انقلاب راځي
ورسره ډالې هم دَ اجرونو او ثواب راځي
کله چې درود ، سلام محبوب ته وړاندې کيږي
سترګې په ديدن دَ جانان ﷺ دا کله مړيږي

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ**

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ( 87 )

دَ مديني خلق درانه خلق دي
خوږ ئې آقا ﷺ ځکه خواږهٔ خلق دي
ټول په نسبت سره بالا دَ نبي ﷺ
ټول په نسبت سره اعلا دَ نبي ﷺ
په خوئي خصلت سَم پښتانهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي
ټول په نسبت دَ پيغمبر ﷺ ښکلي دي
ټول په نسبت دَ خوږدلبر ﷺ ښکلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غمخواره هلته قُربانهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي
ښکلي اخلاق ، ښکلي کردار دَ هغوي
آقا ﷺ رهبر خيرالابرار ﷺ دَ هغوي
خير خوازمونږ دَ ژوندانهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي
نرم مزاجه نرم خويه دي ټول
لري په ژوند کښې دَ اسلام ښهٔ اُصول
په خوئي خصلت سره ماړهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي
لرے لرے دي له نفرت نه تمام
لرے لرے له عداوت نه تمام
ګواه په دغې ميلمانهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي
سخاوت ښهٔ ښکلي ژوندون لري ټول
ذکر سره سکون لري ټول
په جمع احمده ! ټول ښهٔ خلق دي
دَ مديني خلق درانهٔ خلق دي

**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ**

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ( 88 )

خوش نصيبه خلق مديني ته ځي

ځی دَپاك رسول اللــه ﷺ کوځې ته ځی
شوق لری په مینه محبت سره
ځی درود سلام او تلاوت سره
ځی خیرالورئ ﷺ له باغیچې ته ځی
خوش نصیبه خلق مدینې ته ځی
ځی ډیر په ادب او احترام سره
خوشحاله په دې کرم انعام سره
ځی چې دَجنت هغې حصې ته ځی
خوش نصیبه خلق مدینې ته ځی
دلته نه وران دی خوش نصیبه ټول
تمام عاشقان دی خوش نصیبه ټول
روان شو ، سلام له روضې ته ځی
خوش نصیبه خلق مدینې ته ځی
ځی دَمؤمنانو سره ځنګ په ځنګ
ځی ټول دَاسلام په رنګ سره ټول رنګ
ځی دَبی بی عائشې ؓ حجرې ته ځی
خوش نصیبه خلق مدینې ته ځی
ستا هم دَورتلو ارمان احمده ! ډیر
ستا هم دَلیدو ارمان احمده ! ډیر
کله به محبوب له دروازې ته ځی
خوش نصیبه خلق مدینې ته ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَّعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 89 )

ژوند چې مدینه منوره کښې وی
خوندمزه دَژوند هره لمحه کښې وی
یو خواته دیدن به دَروضې کوی
دَنبی ﷺ مدام به تذکرې کوی
خامخا په دې انسان جذبه کښې وی
ځوك چې مدینه منوره کښې وی
هلته دَمونځونو ثوابونه ډیر
هلته په هر لوردی رحمتونه ډیر
ناسته قیمتی چې په حجره کښې وی
ځوك چې مدینه منوره کښې وی
نهٔ دَشیطانانو نه ځهٔ خوف یره
نهٔ دَګمراهانو نه ځهٔ خوف یره
په اَمن وی نهٔ ځهٔ په خطره کښې وی
ځوك چې مدینه منوره کښې وی
جنت البقیع ته په کښې تلل کوی
در حسین چمن هغه لیدل کوی
مدام خامخا ډیره فائده کښې وی
ځوك چې مدینه منوره کښې وی
زړه کښې ډیر ادب وی احترام به وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژبه درود به وی سلام به وی
ناسته چې دَ پاك نبی ﷺ روضه کښې وی
څوك چې مدینه منوره کښې وی
ورسره خوشبو خوشبو بدن تمام
احمده ! سکون هلته هرخوا مدام
سَم به دَ ګلونو باغیچه کښې وی
څوك چې مدینه منوره کښې وی

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 90 )

راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
په شیطانانو باندې هرخواته غمونه راغلل
تیارې په منده منده لاړے دَعرب عجم نه
تیارې په منده منده لاړے له پوره عالَم نه
ورسره ښکلی دَ قرآن حق آیاتونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
هلته سکون راغے ، هرچا په ژوند آرام اُولیدهٔ
هلته سکون راغے ، هرچا حُسن تمام اُولیدهٔ
په کوم مقام چې دَ حضور ﷺ پاك قدمونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
بند شو دَ شرك دَ شیطانت ټول بازارونه بند
بند شو په هرطرف دَ شرك ټول دُکانونه بند



چې دَ آقا ﷺ تذکره راغله ، حدیثونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
ظلمونه بند شو دَ ظالم نه مظلومان آزاد شو
کورونه ټول دَ شریعت په نُور رڼا آباد شو
چې له آسمانه دې دُنیا ته رحمتونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
موسم بدل شو دَ سپرلی ښکلې فضا جوړه شوه
ښکلې حسینه په حضور ﷺ دغه دنیا جوړه شوه
انقلاب راغے ، ښهٔ اعلا بالا سوچونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
خوشبو خوشبو شوه ورسره پوره هوا تمامه
خوشبو خوشبو شوه ورسره پوره دنیا تمامه
ښکلې اعلا بالا تمام اُوچت خیالونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
دَ اُخوت سبق شو عام دَ مدینې لارو کښې
دَ محبت سبق شو عام دَ مدینې لارو کښې
دَ ربّ رضا دَ پاره دا عبادتونه راغلل
راغے حضور ﷺ ورسره ښهٔ ښکلې وختونه راغلل
احمد خوشحاله دے ، خوشحاله دے مردان ورسره
ډیر زیات خوشحاله دے دُنیا کښې هر انسان ورسره
دَخوشحالې زیرې راغلے ، آوازونه راغلل

راغــے حـضـور ﷺ ورسره ښۀ ښکلې وختونه راغلل

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّد وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ( 91 )

مـصـطـفیٰ ﷺ راغـلـے دے ځکه ټول خوشحاله دی
شیطان غلـے تلـے دے ځـکـه ټول خوشحالـه دی
ځـکـه ټـول خـوشـحـالـه دی رښـا دَ اسلام راغلـه
ځکـه ټول خـوشـحـالـه دی ښُکلا ښۀ تمام راغله
نازل کلام ښکلے دے ځکه ټول خوشحاله دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلے دے ځکه ټول خوشحاله دی
ځکـه ټول خـوشـحـالـه دی مات شو دَ کعبې بتان
ځکـه ټول خـوشـحـالـه دی مؤمنان دَ ټول جهان
ابـلیس جنګ بـائیللے دے ځکه ټول خوشحاله دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلے دے ځکه ټول خوشحاله دی
ځکـه ټول خـوشـحـالـه دی ختمـه شوه تیارۀ دَ غم
راغـے دَ سـکـون سبـب هـرخـواتـه پـه هر قدم
دوی جنت ګټلے دے ځکه ټول خوشحاله دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلے دے ځکه ټول خوشحاله دی
مشـرکـان خـفـه خفـه، کـافـران خـفـه خفـه
مـنـکـران خـفـه دی ټول، ظـالـمـان خـفـه خفـه
هـریـو پـریـدلـے دے ځـکـه ټول خوشحـالـه دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلے دے ځکه ټول خوشحاله دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـوئـې وارۀ راجـمـع دی وائـی درودونـه ټـول
لـوئـې وارۀ راجـمـع دی وائـی سـلامـونـه ټول
جمع پوره کلـے دے ځـکـه ټول خـوشـحـالـه دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلـے دے ځکه ټول خوشحاله دی
احـمـده! اعـلا عـمـل دلتـه درودونـه دی
دَ نبـی ﷺ پـه هـرطـرف دلتـه تعـریـفـونـه دی
مـا نعـت لیـکـلـے دے ځـکـه ټول خوشحالـه دی
مـصـطفیٰ ﷺ راغلـے دے ځکه ټول خوشحاله دی

**اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّد وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ( 92 )

چـې حـضـور ﷺ کـلـه یـادیـږی
رحـمـتـونـه نـازلیـږی
تیـارۀ نـور سـره بـدلیـږی
غـم لـه زړونـو لـرے کیـږی
پـه انسـان خـوشـحـالـی راشـی
سـاعتـونـه ټـول رڼـا شـی
ژونـد کښـې حُسـن راپیـدا شـی
ثـوابـونـه ددُنیـا شـی
دَ میـزان تـلـۀ درنیـږی
رحـمـتـونـه نـازلیـږی
چـې حـضـور ﷺ کـلـه یـادیـږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمتونه نازلیږی
ښور دَ حُسن یو ځادر شی
ښکلي جوړ تمام منظر شی
راییداره هر بشر شی
راښکاره وخت دَ سحر شی
رنګاني راښوریږی
رحمتونه نازلیږی
چې حضور ﷺ کله یادیږی
رحمتونه نازلیږی
شیطانانو سره غم شی
دَابلیس کورکښې ماتم شی
په سکون بنی اٰدم شی
قدردان شی محترم شی
وخت پوره تمام بدلیږی
رحمتونه نازلیږی
چې حضور ﷺ کله یادیږی
رحمتونه نازلیږی
ورسره ختم الحاد شی
دَ شرکور کلي برباد شی
ختم کله چې فساد شی
دَ توحید محل آباد شی



ماحول تول ورته جوړیږی
رحمتونه نازلیږی
چې حضور ﷺ کله یادیږی
رحمتونه نازلیږی
زۀ احمد نۀ یم مغرور
مدح خوان یم دَ حضور ﷺ
طلبګار یمه دَ نُور
غواړم رب نه دا ضرور
هر طالب ته ملاویږی
رحمتونه نازلیږی
چې حضور ﷺ کله یادیږی
رحمتونه نازلیږی
اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 93 )

دَ حضور ﷺ دَ ژوند قصه ده دَ معراج
ډیره اهم واقعه ده دَ معراج
اول مسجدِ حرام نه راوتل وو
بیا دَ مسجدِ اقصیٰ په طرف تلل وو
ښه حسینه نظاره ده دَ معراج
ډیره اهم واقعه ده دَ معراج
دَ حضور ﷺ سره ملګري وو جبرئیلؑ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيانوومه درته رُو رُو نورتفصيل
هريو حقه جمله ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

دا سفر دَ پيغمبر ﷺ وو په بُراق
ښکلي ښکلي دا سفر وو په بُراق
ښکلي ښکلي تذکره ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

دَ شپے شوے دا سفر پوره تمام دے
شان دَ سيدالورئ خيرالانام ﷺ دے
عاليشانه هر حصه ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

دَ جبرئيل سره سفر کښي څنګ په څنګ
ډير حسين ددي سفر وو تمام رنګ
بره شوي فيصله ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

څنګ په څنګ دَ جبرائيلؑ سره جانان ﷺ وو
مَل په ټوله لار ورسره په اسمان وو
عجيبه ټوله نقشه ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

دا سفر دَ اسمانونو دَ حضور ﷺ وو
دديدار دَ ډير څيزونو دَ حضور ﷺ وو



واقعه ډيره درنه ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

دَ مونځونو ملاؤ شوي دا تحفه وه
هر طرف ته دَ ډير حُسن نظاره وه
دَ مولا ښکلي تحفه ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

جوړ په کښي مُرسلانو دے امام
خوږ جانان ﷺ زمونږ نبی خيرالانام ﷺ
واقعه تمام ښکاره ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

ما احمدعلی ليکلي برابر ده
واقعه دَ پاك سيرت دَ پيغمبر ﷺ ده
بيان کړي ما خلاصه ده دَ معراج
ډيره اهم واقعه ده دَ معراج

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 94 )

چي په سينه کښي دلته مينه دَ جانان ﷺ راولی
خامخا زړۀ ته رڼا ګاني دَ قراٰن راولی
زړۀ ته چي مينه دَ نبی اٰخرزمان ﷺ راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمينان راولی
مينه بُنياد دَ آبادي دے هريو کُور دَ پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینه بُنیاد د آبادي دے هریو لور دَ پاره
مینه چې راولی پخپله به امان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
مینه تړون دے په هر لور دَ مخلوقاتو تولو
مینه ژوندون دے په هر لور دَ مخلوقاتو تولو
پکار ده مینه چې په زړۀ کښې تول جهان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
مینه ښکلا ده دَ هرکور دَ هر بشر دَ پاره
مینه ښکلا ده هرغریب له هرافسر دَ پاره
مینه په زړۀ کښې خامخا دي هرانسان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
دَ جانان ﷺ مینه وسیله دَ جنتونو تولو
دَ جانان ﷺ مینه وسیله دَراحتونو تولو
مینه په زړۀ کښې چې دَ هغې مهربان ﷺ راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
ده وسیله دَ شفاعت دَ حصول دلته یوه
ده وسیله دهر نعمت دَ حصول دلته یوه
مینه په زړۀ کښې دلته دا دے هریو څوان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
پخپله ژوند کښې دَ نبی ﷺ بیا طریقه ښکاریږی
پخپله ژوند کښې دَ نبی ﷺ دَژوند نقشه ښکاریږی



مینه دي دلته زړونو کښې تمام شاهان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی
مینه دَ پاك نبی ﷺ سبب دے دَ کوثر دَ پاره
پکار ده مینه دا احمده! هر بشر دَ پاره
په پټه پټه په ښکاره دي مسلمان راولی
په دي سره زړۀ ته سکون او اطمینان راولی

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 95 )

خاتم دَ انبیاء ﷺ دے خاتمُ الْمُرسلین ﷺ
دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین
شیرین صفت دُنیا کښې پوره پوره په گفتار
دَ ټول اُمت دَ پاره په دُنیا کښې دے غمخوار
خوشبو خوشبو سیرت لری تمام پوره حسین
دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین
دَ ټول اُمت دَ پاره دَ سرسیورے دَ رحمت
دَ ټول اُمت دَ پاره وسیله دَ شفاعت
صادقه په وینا سره ، صفت سره امین
دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین
پاس ستوری دَ آسمان لری خواږه خواږه یاران
اعلا بالا دُنیا کښې لری ټول عاشقان
صفت سره اوّل هغه ، راغلے آخرین

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین
بالا لری ، اعلا لری ، تمام پوره نسب
قائل ئې دَ عظمت دے دَ عجم سره عرب
محبوب دے په دُنیا هغه دَربُّ الغٰلَمِیْن
دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین
ډیر خوږ دے په نامې سره احمده ! په جهان
ډیر خوږ دے په نامې سره نبی اٰخرزمان ﷺ
طٰهٰ ښکلې نامه لری ، نامه لری یٰسین
دا دلته کښې ایمان لرم ، دا دلته کښې یقین

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 96 )

رحمت په کائنات کښې دے دَربُّ الغٰلمین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
بالا لری اخلاق پوره تمام دَ کائنات
اعلا لری بالا لری تمام پوره صفات
خاتم الانبیاء ﷺ هغه ، امام دَ مُرسلین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
صدیقؓ دے که عمرؓ هریو کامل دے په رښا
عثمانؓ ، علی حیدرؓ هریو کامل دے په رښا
اعلا بالا تمام لری اصحابؓ جانشین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین



خوشبو خوشبو تمام لری وطن دَ کائنات
خوشبو خوشبو تمام لری بدن دَ کائنات
دَ پاك اللّٰه محبوب هغه ، دَ پاك اللّٰه نیازبین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
لعلونه ملغلرې ئې دُنیا کښې هرادا
ښوره په کائنات لری دَ خپل وُجود رڼا
ساقی دے دَ امت هغه ، شفیع دَ مُذْنِبِیْن
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
رهبر داسې بالا هغه ، بُنیاد دَ اُخوَت
وجود لری پیغام تمام دَ مینې محبت
روان وریسے وروستودی دا سلاطین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
اعلا بالا تمام لری دَ ژوند تمام اُصول
خیرخوا خیرالانام ﷺ لری دَ ژوند تمام اُصول
لازم په دې ایمان راوړل ، په جار دلته یقین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین
اعلا بالا جانان ﷺ زما ، احمد وائی په جار
شیرین لری پوره پوره تمام ښکلې گفتار
القاب لری ډیر ډیر هغه ، طٰه لری یٰسین
خوشبو خوشبو تمام لری سیرت پوره حسین

**اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 97 )

دُنیا ته کله چي جانان ﷺ دَ رحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
دُنیا بدله شوه حالاتو کښې بدلون راغے
په هر طرف پوره پوره په ژوند سکون راغے
آقا ﷺ چي دلته مهربان دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي رڼا دَ هدایت ښوره شوه
په هر طرف باندي رڼا دَ شریعت ښوره شوه
پاس له آسمانه چي قرآن دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
خوشبو خوشبو شولو ماحول دَمدینې دَعرب
خوشبو خوشبو شولو ماحول دَ هرحصې دَعرب
له ربّ نه دلته چي آذان دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
دَ ظلالت تیرے رخصت شوے له هرخوانه پوره
دَ شرك ظلمت تیرے رخصت شوے له دُنیا نه پوره
کله چي دلته کښې برهان دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
سَم دَ اختر په شان ماحول په هرطرف جوړ شو
وخت دَ سحر په شان ماحول په هرطرف جوړ شو



کله چي هغه قدردان ﷺ دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
احمده ! ټول ورته خوشحاله دَ مکې خلق وو
انتظار کولو والا ټول دَ مدینې خلق وو
هغه امام دَ ټولو جهان دَرحمتونو راغے
په هر طرف باندي باران دَرحمتونو راغے
**اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد**

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 98 )

سوال کومه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
له مولیٰ غنی سبحان ، دَ نبی آخرزمان ﷺ
هر ساعت په هر قدم ، مینه غوارم په عالم
دَ نبی ډیر محترم ، په ما گران دے په ما گران
سوال کومه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
تل زما دَ زړهٔ تسکین ، جوړوی ژوند بهترین
مینه غوارم دَ یسین ، په دُنیا دَ عالیشان
سوال کومه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
دَ کورونو خیرخوا ، محمد رسول اللّٰه ﷺ
په دُنیا کښې په هرخوا ، هم دَ حشر په میدان
سوال کومه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
شفاعت دَ هغوی حق ، امامت دَ هغوی حق
رسالت دَ هغوی حق ، دا اخلاق لری قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
صحابهؓ ئي قدرمند ، صحابهؓ ئي غیر تمند
رنا هریو لری ژوند، عالی تول په خاندان
سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
دغه سوال لرم هر وخت ، نهٔ غوارمه تاج وتخت
غوارم له مولیٰ نه بخت ، غوارم زړهٔ له اطمینان
سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
ربّ نه سوال کړم التجا ، دا مدام کوُم دُعا
غوارم قُرب دَ مصطفیٰ ﷺ ، هرطرف ته ښهٔ عیان
سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
دَ سر سیورے دے رحمت، طریقه رنا سنت
عبادت ده عبادت ، مدحه تل دَ قدردان
سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
دامې سوال دا مې آرزو ، ورسره مینه لرو
محبوب دلته یادوو، احمدوائی د مردان
سوال کوُمه په جهان ، مینه غوارم دَ جانان ﷺ
دَ نبی آخرزمان ﷺ ، د نبیانو دَ سلطان ﷺ

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ آلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 99 )

مسکن چې لرم په مدینه کښې
سکون به لرم هله سینه کښې



خوشحاله به یم په هر محل
خوشحاله به یم په هر محفل
مدام به یمه په خوند مزه کښې
مسکن چې لرم په مدینه کښې
رنا کښې به یم زهٔ دَ سحر
رنا کښې به یم دَ خپل دلبر ﷺ
ناسته ، ولاړه بیا په روضه کښې
مسکن چې لرم په مدینه کښې
رحمت کښې به یم په هر قدم
جنت کښې به یم په دې عالم
ناسته ، ولاړه هلته حجره کښې
مسکن چې لرم په مدینه کښې
خوندونه لری دَ حضور ﷺ یاد
حُسن ورسره ، ژوندون آباد
خوندونه ښهٔ ډیر په تذکره کښې
مسکن چې لرم په مدینه کښې
اخلمه نامه ښهٔ په ادب
تعلیم سبق ددې مذهب
اثر دَ جانان ﷺ دې په نامه کښې
مسکن چې لرم په مدینه کښې
خوشبو به لرم تمام وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام سره به وایم درود
خوندونه ښهٔ ډیر، دي وظیفه کښي
مسکن چي لرم په مدینه کښي
کوځو کښي به یم مدام مدام
درود به وایم سلام سلام
احمده! خوند کړی دا هر حصه کښي
مسکن چي لرم په مدینه کښي

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ( 100 )

رهبرانو له رهبر، آخرین دے پیغمبر ﷺ
غوارم دلته کښي دیدن زهٔ دَ هغي خوږ دلبر ﷺ
دا حالت لرم مدام، په دُنیا کښي تل تمام
سبب غوارم دَ آرام، دیدن دَ خیرالانام ﷺ
دَ شاهانو تولو سر، نورانی هغه بشر ﷺ
غوارم دلته کښي دیدن زهٔ دَ هغي خوږ دلبر ﷺ
نور څهٔ نهٔ لرم طلب، سوال کُومه له خپل ربّ
خلاصه دین زما مذهب، په عجم او په عرب
اماماتو له امام، افسرانو له افسر ﷺ
غوارم دلته کښي دیدن زهٔ دَ هغي خوږ دلبر ﷺ
وسیله دَ شفاعت، طریقه لری سنت
وسیله دَ هر عزت، دَ حضور ﷺ تمام سیرت



نُور تسکین دَ هر نظر، زمونږه دَ زړګی سر
غوارم دلته کښي دیدن زهٔ دَ هغي خوږ دلبر ﷺ
دا ارمان دے دَ احمد، دا بیان دے دَ احمد
ژوند روان دے دَ احمد، اطمینان دے دَ احمد
تمنا په لر او بر، هم ماښام او هم سحر
غوارم دلته کښي دیدن زهٔ دَ هغي خوږ دلبر ﷺ

..............................................................

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........نعتِ مصطفیٰ ﷺ........

دَ چا چي مینه محمد رسول اللّٰه ﷺ سره ده
په واسطي سره دا مینه د مولیٰ سره ده
دا حقیقت دے، حقیقت له چانه پټ کله دے
دین شریعت دے، شریعت له چانه پټ کله دے
دلته دا مینه په دُنیا کښي دَ اعلا سره ده
په واسطي سره دا مینه دَ اللّٰه سره ده
مینه آقا ﷺ سره لازم ده دَ ایمان حصه ده
تل دَ ایمان په دي جهان دَ مسلمان حصه ده
مینه بیا وروستو صحابهؓ او اولیاء سره ده
په واسطي سره دا مینه دَ اللّٰه سره ده
دا وسیله ده په دُنیا کښي دَ قُربت دَ حضور ﷺ
ښه دَ حصول ده ذریعه په دي دُنیا کښي دَ نُور

مینه آقا سره ساتل مینه رښا سره ده
په واسطي سره دا مینه دَالله سره ده
دا وسیله دَصالحانو دَقُربت دلته کښي
ده وسیله دَعالمانو دَقُربت دلته کښي
ډیردي اعلا بالا چي مینه دا دَ چا سره ده
په واسطي سره دا مینه دَالله سره ده
حق دَاحمدعلی بیان دے محبت ښوروی
پیغام پوره پوره صحیح دَشریعت ښوروی
مینه لازم په لر او بر دَمجتبیٰ ﷺ سره ده
په واسطي سره دا مینه دَالله سره ده

---

اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلٰی مُحَمَّدوَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد

دَ سلو(100) نعتونو یوه حسینه ګلدسته

# درودونه رحمتونه

تصنیف

مولانا احمدعلی مردانی
فاضل جامعة العلوم الاسلامیه بنوریؒ ټاون کراچي

دَ ملاویدو پته
دارالاحناف کتب خانه
نیواډه مردان خیبرپختونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درود او سلام باره کښې

# يوولس ( 11 )کلامونه

﴿ 1 ﴾

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشريف فضيلت ........

درود وايه سلام وايه، په نصيب چې دې رښا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه ، سلام وايه ، چې دې شپه او ورځ خائسته وی
دَ ميزان به ورسره بيا دَ نيکو تله درنه وی
درود وايه، سلام وايه ، چې نصيب دې هرښُکلا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه ، ثوابونه دَ محشر دی
درود وايه، سلام وايه، رحمتونه دَ هردر دی
درود وايه، سلام وايه ، چې اَللّٰه درنه رضا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه ، دا دَ قبر رڼاګانې
ورسره دَ هربشر تل قبليږي دُعاګانې
درود وايه، سلام وايه ، چې قبوله دې دُعا وی



نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه، دَ سکون طالبه دلته
دَ خائسته ښکلي اعلا دَ ژوندون طالبه دلته
درود وايه، سلام وايه، در نه لرے به بَلا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه، وسيله دَ مغفرت ده
درود وايه، سلام وايه، وسيله دَ هرعزت ده
درود وايه، سلام وايه ، ستا دَ ګټې به سودا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه ، طريقه دا دَ اصحابؓ ده
وائے وائے درودونه ، مسئله دا دَ کتاب ده
درود وايه، سلام وايه، ستا دَ رنځ به دا شفا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی
درود وايه، سلام وايه، کار عمل دَ اولياء دے
اے احمده! په هرلور دا عمل دَ علماء دے
درود وايه، سلام وايه، بيا خوږه به ستا وينا وی
نصيب تاته به محشر کښې قُرب دَ سيّدالورىٰ ﷺ وی

﴿ 2 ﴾

## اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشريف فضيلت ........

وايه درود وايه دَ رسول اللّٰه ﷺ نامې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړۀ کښې ساته مینه خامخا دَ مدینې سره
وایه درود وایه دَرسول الله ﷺ نامې سره
مینه ساته زړۀ کښې دَ رسول الله ﷺ روضې سره
کله چې هم ذکر دَ رسول الله محفل کښې وي
بیا درود ،سلام چې خامخا ستا په عمل کښې وي
وایه درود وایه دَ محبوب ﷺ په تذکرې سره
وایه درود وایه دَرسول الله ﷺ نامې سره
دا هریو محفل له خوشبوئي ورکوي دلته کښې
مینې هر بشر له حقیقي ورکوي دلته کښې
سکون دې ترلې دَ محبوب کلي کوڅې سره
وایه درود وایه دَرسول الله ﷺ نامې سره
دې سره باران دَ رحمتونو خامخا به وي
دې سره باران دَ رحمتونو په هرخوا به وي
اُغواړه فلاح دَ مصطفیٰ ﷺ په وسیلې سره
وایه درود وایه دَرسول الله ﷺ نامې سره
خامخا عظمت ورسره دلته په هرخوا راځي
هریو کورته دې سره دَ دین حُسن ښکلا راځي
خوشبوئي تمامه دَ حضور ﷺ ده طریقې سره
وایه درود وایه دَرسول الله ﷺ نامې سره
ورسره سلام وایه احمده ! بار بار تمام
کله چې نامه راځي زمونږه دَ خیر الانام ﷺ



مینه ساته زړۀ کښې دَ محبوب کلي کوڅې سره
وایه درود وایه دَ رسول الله ﷺ نامې سره

........................ ﴿ 3 ﴾ ........................

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشریف فضیلت ........

په درود سره چې کله ذکر کیږي
دا قسمت هم دَ انسان را بیداریږي
ثوابونه دَ ډالې شکل سره وي
دَ جانان ﷺ قُربت ورسره ملاویږي
دَ رڼا سبب دُنیا کښې هر بشر له
ظلمتونه ورسره ټول رخصتیږي
محفلونه ورسره ښکلي خائسته وي
بیقراره زړونه، زړونه قلاریږي
شفاعت له وسیله دَ محمد ﷺ ده
دَ میزان تله په دې سره درنیږي
وسیله هم دَ کوثر بله ښکاره ده
هر کله چې وظیفه دَ ژوند جوړیږي
دا پوره پوره اثر ټول دَ درود دے
رحمتونه دَ باران په شان وریږي
وسیله دَ مغفرت ښکاره هر چا له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره دَ شيطانانو مخ توريږي
مرتبه اُوچتوی هم دَ بشر دا
په مزه مزه منزل ته ور رسيږي
کمالات ټول دَ درود دی دا احمده !
تکليفونه په راحت سره بدليږي

................... ﴿ 4 ﴾ ...................

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشريف فضيلت .........

عجيبه ښکلي کلام دے درودونه سلامونه
دَ الله کرم انعام دے درودونه سلامونه
رحمتونه ورسره وی
برکتونه ورسره وی
راحتونه ورسره وی
ثوابونه ورسره وی
دَ رحمت باران مدام دے درودونه سلامونه
جوړوی ماحول د اَمن
جوړوی هر کورله چمن
معطر جوړوی وطن
په دې ښکلي هر يو بدن
ښۀ عمل دَ خاص او عام دے درودونه سلامونه



ښۀ په شوق وئيل مدام دی
طلبګار چې دَ آرام دی
صدقې دَ هر اندام دی
ښۀ خبر دَ خوَاص عوام دی
امر مونږ ته دَ اسلام دے درودونه سلامونه
ښۀ اعلا دا وظيفه ده
وايه وايه ښۀ درنۀ ده
له ګينه ښه خوږه ده
دا محشر لره توښه ده
سبب دَ کوثر دَ جام دے درودونه سلامونه
وسيله دَ شفاعت ده
دَ حضور ﷺ هم دَ قُربت ده
وسيله دَ هر نعمت ده
اے احمده! دَ جنت ده
عمل دَ سحر ماښام دے درودونه سلامونه

................... ﴿ 5 ﴾ ...................

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشريف فضيلت .........

شامل کړه درود په وظيفه کښې
راحت راولی دا په سينه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکون دَ زړونو مدام تمام
راحت دَ زړونو په هر مقام
هر خواته وايه دَ ژوند حصه کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې
برکت لری دا په لراو بر
عظمت لری دا بالا اثر
خوشبو راولی کور محله کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې
رحمت ورسره مدام په څنګ
په ژوند راولی دَ مينې رنګ
دَ ورځې وايه، وايه په شپه کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې
رضا ورسره دَ مصطفیٰ ﷺ ده
غمژن زړونو له دوا شفا ده
اثر دې دغه خوږه نامه کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې
اجرونه په دې دلته ډير ډير
عمل دا نهٔ کړې دَ فلاح هير
خبر کړهٔ هر څوك کلی کوڅه کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې
سلام ورسره وايه مدام



احمده! وايه پوره تمام
جنت لری دا، بدله صله کښې
شامل درود کړه په وظيفه کښې

...................... ﴿ 6 ﴾ ......................

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّدٍ

## ........دَ درودشريف فضيلت........

ثوابونه په درود اوپه سلام واخله
خوږ شيرين په کلامونو کښې کلام واخله
رحمتونه لس لری مدام بدل
اثرات دی دَ درود په هر محفل
وايه وايه وظيفه ښه دَ آرام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله
ګناهونه ريژوی دَ هر بشر
ګناهونه ريژوی په لراو بر
وسيله دَ کاميابې په احترام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله
انواراتو له دُنيا کښې وسيله ده
دَ فلاح په هر قدم ښه ذريعه ده
قُرب ورسره دَ محبوب خير الانام ﷺ واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکلات ددې جهان ورسره حل دی
معاملات دَ هر انسان ورسره حل دی
انعامونو پسے بل دغه انعام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

دَ محبوب ﷺ سره دَ مینې علامت دے
وظیفه تمام کونکے ټول اُمت دے
رحمتونه ځان سره په هر مقام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

پټ پټ وایه هم په جار باندې درود
په محبوب خیر الابرار ﷺ باندې درود
دَ محشر میدان کښې بیا دَ کوثر جام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

شفاعت به دې نصیب شی دَ محبوب ﷺ
معالج به دې دَ زړونو شی طبیب ﷺ
دَ تسکین اسباب پوره پوره تمام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

وظیفه په وظیفو کښې ده حسینه
وظیفه احمده ! غوره بهترینه
برکتونه په هر لور ورسره عام واخله
ثوابونه په درود اوپه سلام واخله

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد



## ...................... ﴿ 7 ﴾ ......................

## اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد

## ........دَ درودشریف فضیلت ........

چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه
خامخا به له اَسمانه نازلیږی رحمتونه
دا اثر دَ سلامونو هر طرف ته په عالم دے
دا اثر دَ درودونو په عرب او په عجم دے
ورسره دَ حُسن ډك وی هر طرف ته محفلونه
چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه

خوشبوئي ورسره هرخوا هر طرف ته برابره
هر محفل ورسره دلته په دُنیا کښې معطره
دَ جهان ښکلې ګلونه، ورسره په سکون زړونه
چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه

هر بشر وی په سکون ورسره پوره تمام
نورانی ورسره ټول وی په دُنیا په هر مقام
ملغرلے دی لعلونه، قیمتی کړی ټول وختونه
چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه

دا اثر لری هرخواته هر محفل کښې ښهٔ عیان
دا اثر لری هرخواته برابر په دې جهان
کمالی ښه وظیفه ده، ورسره برکتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه
علامت دَ محبت دَ آقا ﷺ دَ مصطفیٰ ﷺ دے
دا اظهار دَ مینې دلته ښۀ پوره پوره هرخوا دے
بیانونه ، عادتونه، دَ حضور ﷺ تول صفتونه
چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه
وظیفه دَ عاشقانو اے احمده ! په عالَم ده
وظیفه دَ مؤمنانو په عرب هم په عجم ده
ثوابونه دی اجرونه، ریژوی هم ګناهونه
چې وی کله سلامونه، چې وی کله درودنه

........................ ﴿ 8 ﴾ ........................

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ آلِ مُحَمَّد

## .........دَ درودشریف فضیلت .........

درودونه سلامونه، درودونه سلامونه
ښکلي ښکلي ورسره، محفلونه محفلونه
ذریعه دَ برکتونو، وسیله دَ نعمتونو
وسیله دَ جنتونو ، وسیله دَ رحمتونو
رحمتونه رحمتونه، برکتونه برکتونه
درودونه سلامونه، درودونه سلامونه
دَ حضور ﷺ دَ قُرب دَ پاره، وظیفه اسانه لاره
ښۀ پوره پوره تیاره ، تاته وایمه هوښیاره !



خوشبوداره سَم ګلونه، دَ حضور ﷺ تمام نومونه
درودونه سلامونه ،درودونه سلامونه
سکون زړونو له مدام، سکون زړونو له تمام
دَ درود سره سلام ،دَ اللّٰه کرم انعام
ثوابونه دی اجرونه، ختموی تمام غمونه
درودونه سلامونه ،درودونه سلامونه
کار اعلا دَ صالحانو ،کار اعلا دَ صادقانو
اے تمامو مؤمنانو ! ،دا دے کار دَ عالمانو
اے احمده! صفونه ،لیکل هرخواته نعتونه
درودونه سلامونه ،درودونه سلامونه

........................ ﴿ 9 ﴾ ........................

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلىٰ مُحَمَّدٍ وَعَلىٰ آلِ مُحَمَّد

## .........دَ درودشریف فضیلت .........

درود وایه قُرب دَ سیّدالابرار ﷺ دے
خوښ ، امر هم دَ مولیٰ پروردیګار دے
دَ رنځور علاج ورسره دلته کیږی
زړۀ بیدار چې نۀ وی هغه بیداریږی
دا اثر ورسره مَل په هر یو دار دے
درود وایه قُرب دَ سیّدالابرار ﷺ دے
تل غمونه لرکوی دَ هر بشر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم بوجهونه دَ ګناه دَ هريو سرنه
درود وايه خوښ کۀ ستا نبی سردار ﷺ دے
درود وايه قُرب دَ سيّدالابرار ﷺ دے

رحمتونو کښې رحمت زما دَ ربّ دے
مذهبونو کښې زما دغه مذهب دے
ثوابونو کښې اعلا دَ ثواب کار دے
درود وايه قُرب دَ سيّدالابرار ﷺ دے

زړۀ په دې سره مدام وی په سکون
خوشحالي په هرطرف دی دَ ژوندون
وظيفه چې ددې دلته کړی هوښيار دے
درود وايه قُرب دَ سيّدالابرار ﷺ دے

دَ کوثر طالب دَ پاره ښۀ عمل دے
بهترين په هرطرف دَ لاري مَل دے
درود وائی چې دَ ښۀ ځوك طلبګار دے
درود وايه قُرب دَ سيّدالابرار ﷺ دے

چې طالب دَ شفاعت وی وظيفه کړی
درود دلته کښې دَ ژوند اهم حصه کړی
دَ احمدعلی تمام دا حق ګفتار دے
درود وايه قُرب دَ سيّدالابرار ﷺ دے

.................... ﴿ 10 ﴾ ....................

اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد



## ........دَ درودشريف فضيلت ........

درود وايه چې دا زړۀ دې تل بيدار وی
ثوابونه ورسره مَل په هر دار وی

چې دُنيا دې خائسته هم اخرت
بهترين دا په جهان دے عبادت
نصيب زړۀ ته په هردر به ستا قرار وی
درود وايه چې دا زړۀ دې تل بيدار وی

ښۀ خوږه پسته وينا دَ ژبې دا ده
وسيله دَ قُرب دَ سيّدالورئ ﷺ ده
راضي دې عمل سره پروردګار وی
درود وايه چې دا زړۀ دې تل بيدار وی

دَ محشر تله په دې سره درنه وی
چا سره چې په محشر دغه توښه وی
درود وائی چې په عشق کښې ګرفتار وی
درود وايه چې دا زړۀ دې تل بيدار وی

دَ غمونو دَ رنځونو تل علاج دے
بهترين دَ عزتونو دَ سر تاج دے
رحمتونه درسره به په هرلار وی
درود وايه چې دا زړۀ دې تل بيدار وی

روان کارونه ورسره تمام سميږی
قسمتونه دَ انسان راويداريږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نعمتونه ورسره دَربّ بیساروی
درود وایه چې دازړۀ دې تل بیداروی
دَکوثر اُبه ورسره حاصلیږی
شفاعت ورسره هم به ملاویږی
اے احمده! درود وائی چې هوښیاروی
درود وایه چې دازړۀ دې تل بیداروی

................ ﴿ 11 ﴾ ................

## اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

## .........دَ درودشریف فضیلت .........

درود دے کۀ سلام دے دا سکون پیدا کوی
اسباب دَکامیابي په دې ژوندون پیدا کوی
دَقُرب دَپیغمبر ﷺ ذریعه حقه دلته دا
ورسره محبت مینه جُنون پیدا کوی
غمونه ورسره دَ هر بشر نه لرے کیږی
ماحول دَاطمینان ښکلی موزون پیدا کوی
رحمت ورسره عام شی بلـه دا لری فائده
هر څوك ښۀ عملونه په لټون پیدا کوی
درود دَ شفاعت ذریعه دلته کښې هم دا
خیالات ښکلي دننه او بیرون پیدا کوی
محشر کښې دَکوثر ذریعه دلته ښه ښکاره



علاج دَلاعلاجه دَ محزون پیدا کوی
بدعت نه لرے لرے هر طرف ته وی په ژوند
په ژوند کښې دَاسلام حُسن قانون پیدا کوی
سلام ورسره هم په هر قدم ساته شامل
بیان ښکلي احمده! ښۀ مضمون پیدا کوی

..........................................................

اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد
اللّٰهُمَّ صَلِ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ .......... وماتوفیقی الاباللّٰه
العلیٰ العظیم .............. واُفوض امری الیٰ اللّٰه
.......... ربّنا تقبّل منّا انّك انت السمیع العلیم وتب
علینا انّك انت التّوّاب الرّحیم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**